August 7, 1957

8

د(۱۳۳۶ش) کال د اسد(۱۵) د(۱۳۷۷ق) کال د محرم الحرام(۱۱) د(۱۹۵۷)ع کال د اگست(۷)

2 - JAN 17
Copy ____ 1958

په دې گڼه کښې

کابل

پېښور ته تګ
صافیان څوک دی
په زړه کښې
گومه لار؟
حضرت عمر (رض)...

ولولی !!

داولی پشتی د دوهم مخ مضمون (سناشان)
د دننه پشتی مضمون «الله اکبر»

پرله پسی گڼه (۴۳۸)

ستاشان

الفت :

که زه ښه و کړم ته را سره ښه کوي که بد و کړم د بد و ـ زا را کوي

که ستا مینه زما په زړه کښې پیدا شي په محبت راته گوري که زه بې مینې شم

ستا مهربانی کمېږی .

ستا در حمت با را نونه په ماباندې هغه وخت ور ېږی چه زما په زړه کښې رحم وی .

زه چه هر څه و کړم ته هما غسی را سره کوي .

که څوك په عذاب کړم په عذا بوي مې که ستا په امر او ستا په نامه چا ته

څه ور کړم په عوض کښې ئی ډېر څه را کوي .

زما نیکبختی او بد بختی زما په عمل اړه لری او جنت ته یا دوزخ ته تگ

زما د ښه عمل او بد عمل نتیجه ده .

زمونږ عقل او فکر همدغه دی مونږ چه تا ته پخپله آئینه کښې و گورو

ستا په باب دغه را ز فکر کوو .

که مونږ ځانته و نه گورو ستا لوی شانته و گورو ته زمونږ له خیال او فکر نه

ډېر لوی ئې او ستا لوئې مونږ پوره نشو لیدی .

ستا ذات او ستا شان زمونږ له عقل او فکر نه ډېر او چت دی .

مونږ چه د ځان غوندی خلقو د پاره کالی نیسو او هغه د سر په ستر گونه وینو

یا لنډوی یا اوږده .

ستا کارونه زمونږ په خیال او فکر کښې نه را ځی او بس همدومره پوهېږو

چه ته مونږ غوندې نه ئې ، مونږ ډېر واړه او کوچنی یو او ته ډېر لوی ئې چه په

وهم او قیاس کښې نه ځائېږې .

داز مونږ کار دی چه د ښو په مقابل کښې ښه و کړو او د بدو په مقابل کښې بد ،

که مونږ څوك وو هو حاکمان هم مونږ وهی .

که مونږ د زمکی په لمن کښې غنم و شیند و او او به ور کړو ډېر غنم را کوی

او زمونږ آب و دانه زمکه بې عوضه نه پرېږدی .

که د یوه نیالگی پالنه او روزنه و کړو ډېره خوږه میوه او یخ سیوری را کوی

که سودا گرو ته پیسې ولېږو څه چه و غواړو را کوی ئې .

که له یوه ماشوم سره مینه و کړو له مونږ سره مینه کوی .

ستا شان له ټول مخلوق نه ډېر او چت دی .

ستا اراده زمونږ دارادی تابع نه ده

ستا کړه زمونږ له کړو نه نه پیدا کېږی .

ستا محبت زمونږ له محبت نه ورو سته نه دی .

(۲۷ کال)

(۸) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م، د، «ژواك»

پته: کابل نادر پښتون واټ د بل خشتی دپله مقابل

د تیلفون لمبر (...)

الله اکبر

ته لوی ئې زما د احساس. فکر او تخیل له د نیا نه
تر هغه جهان چه زما "علم پکښې محدود دی
تر هغه جهان چه زما د رضا موجبات راغونډ ولا ی شی
تر هغه جهان چه زما د وهم او ترس موجب کېدلا ی شی
نوزه وا یم «الله اکبر»

بېله دې و همه چه زه بندی کیږم - بېله دې ترسه چه زما پښو ته زولنی لویږی ځکه پخوا تر هغه لازه د احساس او تفکر په دایره کښې بندی شوی یم چه دا کلمه زما پر ژبه جاری کېدله او پخوا تر دې زما آزادی لوږی ، تندی ، د عزت غوښتنی او د ذلت بیزاری را تهدید کړی ده چه «الله اکبر» ما زده کاوه نو اوس وایم چه «الله اکبر». او بې له کوم لحاظ نه یعنی خوف او رجا په ما دا نه وایی چه «الله اکبر!»

زه ستا د لوئی ذکر پر ژبه ساتم مګر د دې ساتلو معنی هر ګز دا نه شی کېدلای چه زه ستا په لوئی پوره خبریم بلکه دلته زما مثال د هغه واړه دی چه د لمر وړانګې ته لمر وائی یا د هغه انسان دی چه د لمر یوه ګرده ټیکۍ د لمر جهان فرضوی او په نور کم او کیف ئې نه وی خبر

ته لوی ئې او ډېر لوی ستا لوئی زما د ستر ګو د دید او لیدلو تر دایرې ډېره لویه ده ستا لوئې زما د فکر او فهم له ساحی نه ډېره پراخه ده ستا لوئی زما د القابو په ظرو فو کښی هر ګز نه شی ځائیدلای ته لوی ئې او ډېر. خو زما سره بل ظرف نشته بېله د ینه چه و وا یم «الله اکبر» ته لوی ئې تر ما - ته لوئې زما تر علم - ته لوی ئې زما تر ستا ینی. اې د الله اکبر د صفت بلل شوې! ته لویه ئې بېله لوی ماڼۍ - ته لوی ئې بېله لوی کهوله، ته لوی ئې بېله لوی لښکره - ته لوی ئې بېله لوی بندیخانی یعنی دې شیانو ستا د لوئی په بللو کښې هیڅ ډول کومك نه دی کړی - تا د لوئی پر نه صفت کولو څوك نه دی ځور ولی - تا د لوی والی پر نه صفت کولو څوك نه دی تر ټلی تا د لوئی ء پر نه بللو څوك زندان ته نه دی اچولی - تا د لوئی پر نه بللو څوك نه دی وژلی بلکه څور - تر ټنه - زندان او مرګ ټول پیدا او فانی شیان دی - او دا شیان و روسته زمونږ تر پیدا کېدلو پیدا شوی دی خو ستا لوئی ابدی وه او ابدی ده نو ځکه زه وایم «الله اکبر»

ته لوی ئې او د لوی والی د صفت وړ. بل لوی نشته او که وی هم هغه لوی نه دی بلکه د لوئی دعوه دار دی نه، حقیقی لوی نو ځکه زه وایم «الله اکبر

ژواك

پیښور ته تګ

ددې کال په وچولی کښی لکه چه زمونږ په باب سفر لیکل شوی ؤ ځکه مونږ دری تنه ملګری (ښاغلی خادم، رښتین الفت) د حمل په دریمه ورځ دیوه ادبی ټولګی په حیث پیښور ته وخوځیدو او د عبدالرحمن بابا مزار ته مو دپښتو ټولنی له خوا داخلاص او عقیدات یوه درنه او سنګینه تحفه یووړه چه هغه د وطن له ښکلو او قیمتی ګټو څخه جوړ شوی قبرؤ او دډیر درنښت په وجه په دوو لویو لاریو کښی بار کړی شو .

مونږ ور پسی دپښتو ټولنې په موټر کښی چه په صورت ماشوم او په عمر زوړ دی وروسته له غرمی وخوځیدو چه لمر مغرب ته او مونږ مشرق ته روان وو .

څنګه چه مونږ د کابل له ښاره ووتو او ځانونه را نه دیوی لاری ملګری ښکاره شوه دملګرتیا احساس شیبه په شیبه قوی کیده او هغه زړه پخوانی مینه ساعت په ساعت تازه کیده .

مونږ خو په خوله نه ویل مګر په زړونو کښی پوهیدو چه دیوه مقصد پالونکی ارو مرو په یوه لاره یوی خوا ته تلونکی دی .

په دغه ورځ مونږ د شپی په لسو بجو جلال کوټ ته ورسیدو او د شپی هلته ځکه پاته شوو چه سیلابونو لاری ورانی کړی وی او په موټر هم زمونږ اعتماد ډیر لږ ؤ بلکه یقین مو درلود چه په توره شپه کښی له خوړونو او کندو کپرونشی تیریدلی سبا چه په رڼا کښی مخ په پیښور وخوځیدو زمونږ بیګانی ګمان غلط نه و په رڼا ورځ هم د موټر زړه وچاودا و دوینو په ځای ترینه تیل څڅیدل ، د دغسی پیښو په اثر تورخم ته دماز پښین په ۲ بجو ورسیدو او هلته ښاغلی مولانا عبدالقادر دپیښور دپښتو اکاډمی رئیس له ښاغلی ډاکتر انوارالحق او ښاغلی عبدالصبوح سره زمونږ په انتظار کښی ناست وو ، د دوی په لیدو مونږ ډیر خوشحاله شوو او وروسته له روغبړ او چای څکلو دخیبر او لواړګی په تاوراتاو سرك پیښور ته روان شوو ، ددغو لوړو غرونو او هیبتناکو مناظرو په لیدو کتود تیرو زمانو زړی قصې او زاړه داستانونه را یاد شوه چه ډیر عجیب او غریب تصورات ورسره ملګری ؤ .

په دغه ورځ (د حمل ٤) دمازیګر په ٤ بجو او دیر شو دقیقو دپیښور پوهنتون ته ورسیدو چه د رحمان بابا په مزار باندی مشاعره په ختمیدو وه .

ښاغلی مولانا مونږ برابر د پوهنتون (میلمستون) ته بوتلو او مونږ دا کاډمی میلمانه وګڼل شوو ، یوه شپه چه تیره شوه مونږ مولانا ته وویل چه میلمستیا همدو غومره کافی ده وروسته تردی به دا ډیره ښه وی چه مونږ په یوه هوټل کښی ځای ونیسو او د میلمستیا آداب او قیود له دواړو خواؤ رفع کړو هغه په دی راضی نشو او سره زمونږ له بیا بیا ویلو تر ډیره وخته

مولانا له مونږ سره په تکلیف ؤ او
مونږ له ده سره خوښ او
خوشحاله وو.

هر چیرته به چه مونږ تلو
مولانا به له مونږ سره ملګری ؤ
او دده په لار ښودنه مودنو ښار
او مردان ځینی فابریکی ولیدی
او د پوهنتون له ځینو استاذانو
سره اشنائی حاصله شوه، د مولانا
مینی او مهربانۍ په مونږ دومره
تاثیر درلود چه بی دده له خوښی
او ملګرتیا مونږ چیرته نه تلو
او د ځینو دوستانو بلنې موهم
دده په سلا او مشوره رد کړی.

زمونږ مهمه آرزو په پیښور
کښی داوه چه د هغه ځای
لیکوال او پوهان له نژدی وو بنو
او له روحی او فکری
پیژند ګلوۍ سره دستر ګو او
نظر پیژند ګلوی هم ملګری شی
دا آرزو تر یوه حده په څو
دوستانه دعوتونو کښی حاصله
شوه.

دا دعوتونه دوه د پیښور په
پوهنتون کښی دا کاډمی له خوا
او نور د ښاغلی محمد نواز خټک
ښاغلی محمد شاه خیال ګاکاخیل
ښاغلی حاجی خانمیر هلالی او
ښاغلی همیش، ښاغلی خلیق او
ښاغلی افغانی قونسل (صافی)
له خوا راکړی شوه علاوه پدی
دا راسی ادبی جرګی له خوا هم
مونږ بوه شپه د دوی ټولنی ته
وبلل شوو چه هلته موډ بر پوهان
او لیکوال ولیدل او د هغوی
د نقد او انتقاد په مجلس کښی
موګډون وکړ د پیښور د پښتو
اکاډمی په سالون کښی هم
د پښتو د رسم خط په باب څو
مجلسونه وشوه چه هلته هم د ډیرو
کسانو په لیدو ډیر خوښ شوو
چه ځینی نابللی هم پکښی زمونږ
د لیدو د پاره راغلی ؤ چه زمونږ
په نظر کښی ئی ډیر قدر درلود

کوم دعوت چه مونږ پکښی
د شمول افتخار حاصل نکړی شو
هغه د ښاغلی مظفر خان او ښاغلی
طوفان دلاری او د رهبر د مجلو
د چلوونکو بلنه وه، همدغه شان
د ښاغلی عبدالاکبر خان اکبر
ست او سلاته لا مونږ د هوا و نه
جواب نه ؤور کړی چه بیر ته
راغلو همدارنګه د ښاغلی حمزه
صاحب بلنه هم بی اجابته پاته
شوه،

او مونږ ونکړی شو چه د هغه
د ځوی واده ته لواړ ګی ته
ور شو.

په پیښور کښی مونږ د عبدالرحمن
بابا زیارت ته خو ډیر ډیر
او هر کله تلو مګر د خوشحال خان،
حمید او د څو کنو د میا عمر صاحب
او اخوند درویزه بابا زیارتونه موهم
وکړه او د غازی سردار محمد
ایوب خان مزار ته هم دوه ځله
ورغلو یعنی هدیرو تګ ته زمونږ
د پاره داسی ولکه پیریانو ته
غزنی.

مونږ به چه کوم زیارت ته د تلو
اراده وکړه نو هیڅ تردد به راته
نه پیدا کیده او یه دی باب
کښی به مونږ چا په رمز او اشاره
هم نه پوه کولو چه هدیرو ته تګ
ښه نه دی مګر د یوه ژوندی
سړی لیدو ته مونږ بې مشورې نه
تلو او ځینی خولا داسی هم وا چه
مونږ پکښی له چا نه مشوره
هم نه غوښتله او پخپله خدای
پوه کړی وو چه هر ځای ته تګ
ښه نه دی. هو! په ژوندو کښی
هم ځینی کسان داسی وچه هغوی
ته او یوه زیارت ته تګ څه فرق
نه درلود مګر ټول ژوندی خو مړو

غوندی نه‌وچه‌مونږ بې له تپوس او پوښتنې ورغلی وای.

په‌پښتور کښې که‌څه هم زمونږ زړه ډېر غوښتل چه‌دهغه ځای له‌پوهانو، لیکوالو او شعرا ءسره ډېرو ګوروا وعلمی او ادبی اشنائی ښه‌تینګه کړو مګر په دغه کار کښې مونږ له ډېر احتیاطه کار اخیست او دښاغلی کور به له‌خوښی‌مو مخالف قدم نه‌ایښوده‌خودا چه‌پښتنو پوهانو او ادباؤ مونږ پخپل راتګ سرلوړی کولو او هغوی به زمونږ لیدوته راتله زمونږ ګناه نه‌وه.

مونږ که‌څه هم له‌سیاست سره هیڅ کار نه‌درلوداو زمونږ ادبی حیثیت او شخصیت مونږ ته دااجازه نه‌راکوله چه‌له‌چا سره سیاسی بحثونه وکړو مګر دپاکستان او افغانستان سیاست تر ډېره حده دادبی او علمی تعلقاتو مخه هم نیولی‌وه‌او مونږ دانشو کولی‌چه‌بې دچاله‌اجازې د پښتو لغت او ګرامر یاهغه کتابونه چه خالص ادبي یاعلمی دی دیوه‌دوستانه یادګار په‌ډول چاته وړاندی کړو په همدغه وجه زمونږ دغه راز څه کتابونه‌ډېره‌موده‌له‌مونږسره پاته شوه او چه تول ښه وکتل شوه نوپه آخروخت کښې لحینو کسانوته ورکړل شوه.

لکه چه‌مونږسره‌دا آرزو ډېره تینګه وه چه دهغه ځای کتابونه او آثار وګورو دهغه ځای ادباؤهم دافغانستان پښتو کتابونو ته‌ډېره‌تلوسه درلوده او غوښتل‌ئې چه‌زمونږ او ددوی ترمینځ دعلم وادب دپاره لاره خلاصه وی‌او په‌دغه‌وسیله‌دواړه خواوې دژبې دترقی‌او تکامل په لاره کښې یودبل له لیکنو استفاده وکړی مګردا بوحقیقت دی چه‌ددې ځای او دهغه‌ځای فرهنګی تعلقات هم تر اوسه پورې نه‌دی قایم‌شوی‌او یوقوی سدپه مینځ کښې موجوددی.

په‌پښتو رکښې‌زمونږدپاره ډېرلوی‌او ستر نعمت دهغه‌ځای داهل علمو اواهل ادب سره لیده کاته‌و، چه‌په دغه جمله کښې دلحینو یادونه لازمه‌ده.

۱- ښاغلی صاحبزاده‌محمد ادریس دپښتو ریه‌پوهنتون کښې دافتصادیاتو استاذ مونږ څوځله ولید اوزمونږ په‌زړونو کښې دهغه ډېره مینه او ډېر قدر پیدا شو دده یو کتاب د پیغلی په‌نامه مایخوادده‌له کتلولیدلی‌و او دده خوږ او خوند ورنثر زما ډېر خوښ‌و، دده دغه کتاب یوه ډېره ښه اوږده قصه ده چه دیوه پښتون کرکټر په ډېر صحیح ډول یکښې ښودل‌شویدی اوپه نفسیاتی لحاظ‌ډېر دقیق اوعمیق نکات یکښې قلمبند شویدی چه‌دلیکونکی‌ډېرباریك نظراوډېره‌پوهه‌یکښې معلومېږی اودژوندانه دا سی کیفیتو نه یکښې ښودل شویدی چه‌عادی نظرونه‌ئې په‌لید لو توفیق نه مومی، دافسانه غلاوه‌په دغه علمی قیمت‌په ادبی لحاظ‌دومره خوږه ده‌چه یو ادبی شهکار ورته‌ویلی‌شو اودناول نګاری‌په‌فن کښې دنورو داستفادې دپاره یوه ډېره ښه نمونه کېدی شی.

مونږ چه‌صاحبزاده صاحب‌ولید دده‌صحبت‌هم لکه دده‌دغه کتاب له‌ډېرجذابیت‌سره ډېر ښه علمی‌قیمت هم لری او دسړی‌زړه غواړی چه له‌ده سره په صحبت مشغول وی.

دی سر بېره پدې چه په پښتو کښې ډېرښه نثر لیکی شاعر هم دی او درې منظوم اثرونه ئی هم چاپ شوېدی (گیلی وسو سې سوزوساز- باتور) دده اشعار هم دفکر او معنی په لحاظ ډېرښه دی او دده شاعری هم عادی شاعری نه ده.

دده په اشعارو کښې د اسلام مینه او جذبه ډېره زیاته معلومېږی او په صحبت کښې ئی هم اسلامی افکار ډېر زیات دخل لری مگر د قرآن دژړا په عوض د شیطان ژړا دده د شعر عنوان وی او د طور رڼا د بجلۍ په رڼا کښې وینی.

دده د شعر نمونه چه دی هم په کښې دفکر او خیال په لحاظ پېژندی شی داده :

نه عرب یم نه مغل یم نه افغان یم — نه دهند دپاکستان نه د ایران یم
یم انسان انسانیت زما مذهب دی — له مودونه هم په دغه لار روان یم

* * *

زه انسان یم په انسان باندی مفتون یم — یو طالب د سړ یتوب د پوهنتون یم
پښتون هم په انسانانو کښې انسان دی — ځکه زه ولاړ په مرسته د پښتون یم

* * *

نه ریا نه مې فریب زده نه چل ول زده — نه د رشل د آمرانو ښکلول زده
دامنم چه بل هنر په ما کښې نشته — یو قبا در یا کار ومې شلول زده

* * *

ژوند

ژوند د تودو اوښکو څڅېدو کښې دی
اور کښې د هجران په سوزېدو کښې دی

ژوند کښې چه حرکت نه وی بېخوندوی — خوندئې پر یو توا و چتېدو کښې دی
بې حسه چه ژوند شی هډو ژوند نه دی — ژوند له ډېره درده رېېدو کښې دی
ژوند کړی په سینو کښې تلاطم پیدا — ژوند د گر ېوانونو په شلېدو کښې دی
ژوند لکه په ورېځو کښې بر ېښنا گڼه — ژوند له ډېره غمه مسېدو کښې دی
ژوند دی دلیلی د خندا ستر گو کښې — هم د قیس د زړه په در زېدو کښې دی

ژوند دادم خان در باب ترنگ کښې دی
کور د در خانۍ په گډېدو کښې دی

* * *

پښتو

پښتو زمونږه کورنۍ ژبه ده
دا مو د قوم دودانۍ ژبه ده

ددی که خاوری زه ئی گل گڼمه — ځکه چه دا می مورنۍ ژبه ده
پښتو په عمر کښی ده ډېره پخه — په پخوانو کښی پخوانۍ ژبه ده
پښتو دوام لکه د غرونو لری — په پوخ عمرۍ کښی دځوانۍ ژبه ده
رشته د دی له اوستا سره ده — چه دفرهاد د شیرینۍ ژبه ده
پښتو زړه ده ولی شان ئی نوی — هم پرونۍ هم نننۍ ژبه ده
پښتو پښتو ده د غیرت نښه ده — په سړیتوب د قربانۍ ژبه ده
دې کښی پرتې دی افسانې د مینې — د آدم خان د درخانۍ ژبه ده
دې کښی رحمن د مینې ساز غږوی — د تصوف پاکدامنۍ ژبه ده
دې کښی پرواز کوی شهباز د فکر — دا د حمید د ښادمانۍ ژبه ده

د پښتو ژبه په غور زنگ را غله
د پښتو نخوا د کامرانۍ ژبه ده

* * *

ښاغلی صاحزاده صاحب به مودده د شعر له نمونو څخه دومره پېژندلی وی چه دا د سړیتوب د پوهنون طالب چه نه عرب نه مغل نه افغان نه هندی نه پاکستانی او نه ایرانی دی بل څوک نه ی پښتون دی او د پښتون په مرسته ولاړ دی.

دې د قوم دودانۍ ژبه پښتو گڼي او د پښتو نخوا د کامرانۍ ژبه ورته وائی.

(پاته لری)

داد یوه عنعنوی مضمون په حیث نشر یږی . مولوی «چمبیلی» دارغستان قاضی

صافیان څوك دی؟

له ډیره وخته ځماسره دصافو دقوم اوریږی په نست څه سودا موجوده وه اودهر چا څخه چه به می ددی لوی قام په شاوخوا کښی معلومات وغوښتل نو ځینو به ددی قام ریښه غلجو ته رسوله او ځینو نورو به دیوه مشکك مقلدغو ندی په درانو باندی تپل خو پوره نتیجه لاس ته نه وه راغلی.

کله کله به موچه په کونړو نو کښی دځینو سپین زیرو اومشرانو نه پوښتنه کوله نو هغوی به دومره ځواب را کولی شو چه مونږ (صافیان) دقندهار دغوړی مرغی (۱) نه راغلی یو... او بس کوم وخت چه تقدیر یېښه کړه اوزه تیر کال دارغستان په قضاء دلته مقرر شوم نو یوه ورځ د (کدنی) کلمه چه اوس دی ځای ته (سپین بولدك) وایو منځ ته راغله، خیر داخو مو په دی فیصله کړه چه دغه ځای دقندهار دښار په جنـ یوه سیمه ده اوسطحه ئی هم نظر قندهار اوشاوخوا نه تیټه او . ښکته یا کښته اواوسیدنکو ته ئی ښکتنی یا کښتنی وائی نو ښائی چه دزمانی ر ـ ـ ـ ـ ـ دوالی په اثر او دمحاورو داختلاف په اساس به دزیاتی اسانتیا په لحاظ د (ښ) حرف له منځه غورځید لی او د (ت) حرف به په (دال) باندی بدل شوی واو د (ښکتنی) یا کښتنی نه به (کدنی) جوړ شوی وی.

چه په دی اخرو وروستو کلونو کښی دا نوم هم په چا ښه نه دی لګیدلی او د کدنی نوم ئی (په سپین بولدك) واړاوه چه ددی وروستی نوم اودهغه ځای د خصوصی مناسباتو موندل ګران کار دی .

همدغه رازد (ارغستان) نوم دی چه دطبیعی موقعیت او ددی سیمی دغرنی هیئت او طبیعت په لحاظ دغر او راغه او ارغستان نه اړول شوی کلمه معلومیږی .

---

(۱) غوړه مرغه د کلات په جنوبی خوا کښی دسره غره له جنوبی اړخ څخه شروع کیږی او دغرب خواته ترارغستان پوری او بیاد کوزك ترغره پوری ده ، او بیا د کاکړستان او کسی (کوه سلیمان) ترغره پوری وسیعه منطقه ده پټه خزانه او دسپین بولدك سیمه دارغستان څخه ډیره لیری غربی خواته پرته ده او غوړه مرغه اوس دقلات دشینکی په محلی حکومت پوری مربوطه ده او دنوموړی غوړی مرغی په شرقی برخه کښی په «شنه غره» نوی ځای کښی اوس هم دیو نیم یا دوه زرو کورونو په اندازه دصافیو قوم شته چه دپوونده ګلوی په څیر ګذاره کوی په دوبی په دغو دشنه غره په سیمو کښی اوسیږی او په ژمی کښی ددامان تو دو سیمو ته ځی هلته ژمی تیروی او دتجارت کسب هم کوی . «ثابت»

په دی ترڅ کښې چه د سپین بولدك د نورو کلو او علاقو نومونه اخستل کېده د (مرغی) نوم هم واوریده شو او ورته ملتفت شوم چه ښه! مرغه څه معنی؟ چاوویل چه (مرغه) په سپین بولدك کښې خورا اباده او سرسبزه منطقه ده چه اوس په داخل کښې داڅکزو د قبیلی مرکز دی نو سمدستی ځما فکر هغه خبری ته ولاړه چه خلکو به ویلی چه: صافیان د قندهار دغوړی مرغی د قندهار نه راغلی دی!! او د مرغی د کلمی سره دغوړی صفت خو ځکه بی ځایه نه دی چه په ټول سپین بولدك کښې د مرغی نه په غیر د او بو او باغونو او شنو په لحاظ بل داسی ځای نشته چه د مرغی مزیت ورباندی کم شی او ددی مثال زمونږ ذکونړونو د مومندو په سرحد کښې په عامیانه اصطلاح او نکلونو کښې ډیر ژوندی موجود دی چه وائی په مومندو کښې دیو کلی ترمخ یوه (بکیانه) شنه شوی وه نو خلکو پری دباغ کلی نوم کښېښود نو ښائی چه (مرغی) ته به په همدی لحاظ چه څه ناڅه شادابی او سرسبزی لری (غوړه مرغه) ویلی شوی وی.

په هر صورت زه په دی خبره ټینګ شوم او تتبع می شروع کړه چه باید د دی ځای د خلکو اصلی ریښه او قومی سلسله معلومه شی ګوندی چه یو مقصد ته ورسېږو او د ځینو ښاغلو پوهانو او قومی مشرانو سره په تماس کښې شوم لکه خان محمد اعظم خان اڅکزی، مولوی کمال الدین خان اڅکزی، مولوی فضل محمد خان اڅکزی، خان محمد دلبر خان الکوزی، عبدالواحد خان بارکزی او داسی نور..!

چه بالاخره مونږ یو ځل په دی خبره فیصله وکړه چه باید داڅك نیکه سلسله تر آخره پوری ځان ته معلومه کړو ګوندی چه په دی ترڅ کښې د (صافیانو) نوم او ریښه هم معلومه شی او دا چه وایی (صافیان دغوړی مرغی د قندهار نه راغلی دی) هم یو حقیقت پیدا کړی.

معلومه شوه چه (اڅك) د نورالدین، دی د بارك، دی د زیرك دی د اختر، دی د عیسی، دی د عبدل دی د ترین، دی د شرخبن، دی د سړبن او دی د عبدالرشید چه په قیس مشهور وځامن دی.

د نورالدین نه د اول پلاد پاره څلور ځامن پیدا شوی دی چه دیوه نوم اڅك د دوهم نوم بیان د دریم نوم بازی او د څلورم نوم لوط دی

داڅك نیکه نه دوه ځامن زېږېدلی دی اول بادین او د دوهم نوم ګوجین دی.

د بازی نه وائی چه هیڅ اولاد نه دی پاتی شوی او د لوط نه دوه ځامن پاتی شوی دی چه اول خو نسید او دویم ته ئی بوسید ویل کیده د بوسید نه هم دوه ځامن زېږېدلی دی چه یو ئی عمرخان او بل ئی محمد او دوی وائی چه د محمد اولاده همدغسه ننی محمدزائی دی،

دبیان نیکه نه اوه لحامن زیږیدلی دی چه په لاندی ډول یادیږی ،

۱ - صافی

۲ - خیری

۳ - اسمعیل

٤ - عدل

٥ - جمعه

٦ - تیمور

۷ - نظر

دخیری اولاد او کهول په دی وخت کښی په توبه اوارغنداب کښی اوسیږی ، دا سمعیل پښت دارغستان په جنوبی ارخ غرنی منطقه کښی په (ملید) نومی لحای کښی او سی پـه اوچ کدنی نومی لحای کښی دعدل اولاده هم خال خال لیدل کیږی دجمعه اولاد اوپښت په اوچ کدنی اودقندهار دده چوپان په (میانشین) نومی لحای کښی تیت پراته دی د تـیمور لحامن اولمسیان دخپلی بی اتفاقی په اساس دهرات اوفراه په سرحدونو کښی میشت شوی او تراوسه هلته داحکزو په نامه یادیږی دنظر نیکه اولاده دقندهار دتیری په حکومت کښی تازه په تاره پنځه سوه زیات او کم کورونوته نژدی اوسیږی .

د (صافی) بابا اولاده دخلکو اوعامو معلوماتو له رویه دهغه وخت دخپل منځ دبی اتفاقی اوجګړو په اساس ددی ملك نه تیت اوپرك شوی دی او تردی وخته پوری ددوی اثار دلته موجود دی .

د (صافی) دپلار (بیان) اودهغه دورونو اصلی تاتوبی توره مرغه نومی لحای دی چه د آزاد پښتونستان دعلاقو پوری نښتی داوچ کدنی په توبه کښی پروت کلی دی چه لمر خا تـه ته ئی ایروخولګی نومی سیمه اولمرلویده ته ئی کلا ګی قطب ته ئی دنخاس مشهور لـوی غردی چه دافغانستان په خاوره کښی پروت دی اوسهیل ته ئی توره مرغه سیمه خوره ده ،

په دی منطقه کښی دبیان اواحك اولاده اوسیده ددی لحای طول اوعرض دشپږ شپو ورځو په مسافه تخمینیدای شی په اوس اوس دبیان داولادی دلاسه وتلی اود کا کړود قبیلی په لاس کښی دی ،

دبیان داولادی په سلسله کښی دصافی داولادی ډیرشمیر کورونه زښت پخوا ددی ملکه نورو ملکونوته تیت شوی دی وائی: چه دبیان په لحامنو کښی دصافی اولاده ډیر جنګ جوی خلك ؤ اوپه همدغه وجه کډو کولوته مجبورشوی ؤ .

مونږ چه ددوی په کورنی تاریخ رڼا اچو و گورو چه د اڅك نیکه دژوند سلسله په څلورسوه شپاړس هجری کښی ختمه شوی ده نو داخبره تری په وضاحت سره څرگند یږی چه دده نورو رونه لکه بیان ، بازی او اوط به هم مخکښی وروسته په همدی کلونو کښی سره مړه شوی وی .

داڅك بیان او بازی قبرونه اوس هم دتوبی په سور کاړ بورڅه نومی کلی کښی موجود اوخلك اوس هم ورته دبابا گانو قبرونه وائی .

دصافی نیکه اولاده چه دخپلو ځایو څخه تیت شوی دی دتخمین له مخی نه ددوی د نقل مکانی نیټه په پنځه او شپږ سوه هجری کښی تخمینیدی شی ځکه هغه قومونه چه نن ددوی په ځای ناست او ددوی په ملك جا گیر شوی دی ایله بیله دومره وخت اټکل کیدای شی او بس.

کوم وخت چه دډیورند کرښه دامیر عبدالرحمن خان په سلطنت کښی دافغانستان اوپخوانی هندترمنځه وایستل شوه په دغه کال کښی دصافو شپیته کوره وروستنی آخرین نسل او نبیره چه په توبه کښی اوسیدل هم بارشوی دی او تراوسه ئی درك نه دی معلوم .

ددوی د کورنی تاریخ اومعلوماتونه داسی څرگندیږی چه (صافیان) دپخوا پخوا نه مالدار اوپونده خلك ؤ کوم وخت چه دوی دخپل اصلی مقر نه کوچیدلی نوطبعاً ئی داسی ځایونه په نظر کښی ؤ چه هلته دخپلی پونده استوگنی اومعیشت د تامینولو پکښی لحاظ ساتل کیده نو ځکه ئی زیات شمیر بیرته دافغانستان په داخل کښی دننگرهار دشمال شرقی اړخ دهندوکش په غرنی سیمو کښی میشت او جا گیر شوی دی او په همدغه طریقه ئی دکاپیسا درو اوراغوته لمن پراخه شوی ده.

داچه د کنړ ددرو صافیان همدغه صافیان یعنی دبیان لمسی او داڅك نیکه وریرونه دی او که نه ؟ کله چه مونږ دپښتنو عمومی کرکټر اوطبیعی عاداتو ته اوخصوصیاتو ته و گورونو دډیرو شواهدو په اساس دانظریه قایمیدای شی چه د کنړ ددرو صافیان دی همدغه دبیان اولاده وی کوم چه دتوری مرغی دتوبی نه تللی دی !!

په پخوانو او موجوده لروبرو پښتنو کښی داعادت دی چه په قام اوقبیله کښی د خپلو خپلوانو نومونه بیرته په خپلو ځامنو اولمسو باندی ږدی اردا ددې دپاره چه (ددوی په اصطلاح) دمړو میړونو نوم ژوندی پاتی شی .

مونږ چه د کنړ ددرو په صافیانو کښی و گورو نو دبادین زی ، سلیمان زی او گوجین یا گاگزی په نامه غټ اولوی شعب اوقبیلی موجودی دی چه ددی ځای نه داخبره څرگندیږی چه دبیان په ځامنو کښی داڅك اولاد اولمسو (بادین ، گوجین اوسلیمان) نومونه

ایښودل شوی اوداچه دوی په دی ځای پردیسان ؤ نودخپلی نسلی اودخپل تره ځا منو نومونه ئی دځان سره راوړی دی .

دلته په قندهار اوسپین بولدك کښی داځك مشهور قوم او قبیله بادین زی، گوجین زی اوسلیمان زی موجود دی اولکه دصافو غوندی لوی لوی قومونه تری جوړ شوی دی .

دمولوی کمال الدین صاحب خاصه نظریه ده چه دسر کانی په نوم کوم خلك چه په کنړونو کښی اوسیږی او ځینی خال خال په ارغستان کښی هم موجود دی داد اځك اولاده ده او دخپل تره (بیان) دځامنو په پل باندی همغه وخت ددی ملك نه تللی دی .

کله چه مونږ دسر کانی ریشه دفقه اللغت په اصولو باندی وخیړونو ددی خلکو قومی ساسله په بل ځای کښی هیڅ نشی پیدا کیدای بیله دبنه چه وړ ایو (سر کانیان همغه قوم دی چه دسور کار نه خپاره شوی او خپل اصل وطن او مسکن ته منسوب پاتی شوی دی) .

مخکښی می ویلی ؤ چه داځك او بیان اصلی وطن سور کار

بورڅه نومی کلی (توبه) ده.

سور کار دسر کانی دکلمی سره صرف داختصار او تفصیل فرق أو توپیر لری نو کیدای شی چه موجوده سر کانی دی داځك اولاده وی اوله دی امله چه د صافی اولادی تراوسه پوری په ځان کښی نه دی راگډ کړی ددی خبری دپاره لوی سند گرځیدای شی چه دوی صافیان نه دی

بووخت چه زه دسر کانو دځینو خلکو سره په تماس کښی وم نودوی به ویلی چه مونږ (درانی) یو مگر لکه دکونړ دصافیانو غوندی دخپلی سلسلی په ثبوت باندی هیڅ قادر نه ؤ .

اوس اوس چه مونږ خپل معلومات صحیح وبولو او دوی په رښتیا سره داځك اولاد و منل شی طبعی ده چه دوی دی داځك په سلسله باندی (درانی) وی .

دټولو تمهیداتو او مقدماتو په لحاظ سره دماحول او محیط دمعلوماتو سره سم دی نتیجې ته رسیدای شو چه صافیان د(درانی) په تبر کښی دننه دننه داخل او خورا غښتلی قوم دی او ددی دپاره چه د دی لوی قوم تاریخی معلومات نورهم لاس ته راشی دښاغلو لوستونکو نه پری دنوری رڼا اچولو هیله لرم والسلام .

ښاغلی بختانی د سره رود نه

په زړه کښی

آرزو دغریبانو دیاری لرم په زړه کښی

نیت دزخمی زړه د دلداری لرم په زړه کښی

خوارانو سره دوست او د خواری سره دښمن یم

زه خیال دورك کولو د خواری لرم په زړه کښی

چه کله خوبو لوته شپیلی داسرافیل شی

هوس د هسی رنګه بیداری لرم په زړه کښی

خوزمن چه چیرته ووینم د زړه رنځ می زیاتیږی

ارمان ئې دد رمان دبیماری لرم په زړه کښی

دنوی عصر عقل، زوړ منطق ئی ایستی نه شی

جذبه د محبت او دینداری لرم په زړه کښی

د عشق په لوی څښتن ئی چه ایمان وی «بختانیه»

تینګ عزم د هغو دریباری لرم په زړه کښی

د(تېګور)له آثارو

دښاغلی قندهاری «رشاد» ترجمه

کومه لار؟

توره شپه وه (دولت رام) پخپل کور کښې د توری رمور(۱) دزاړه بت مخی ته ګونډه وهلې وه نمانځنه (عبادت) یې پر خلاصیدلو ؤ چه د(آمو) له ورپوری باغه څخه یې د تورو کارګانو د ګاغ کاغ سهارنی ناری ترغوږ شوې د کورنی دهرم سال (مندر) ورته یې په ځیر ځیرو کتل تینګ تړلی ؤ دا ستری پلاله پاره یې بیا د توری سور بت ته سر ګوږ کا او په خورا درناوی یې دبت چوکۍ لږ هیسته کېښو د له له لاندې څخه ئې یوه دلر ګو خورا تینګه صندوقچه را وایستله او په هغه کلی چه دغاړی په زنار (کاپرمزی) پوری یې ځوړنده وه خلاصه کړه خو دننه چه یې پکښې و کتل بڼه یې والوتله هو لکی وغوځیده صندوقچه یې راپورته کړه څو ځلی یې پورته کښته کړه صندوقچه نه وه ماته شوې او قلف یې هم هغسی روغ ؤ د بت پرچار پېر خورا تلولی تلولی و تېر یدشاو خوا یې څو واره و کتل راو کتل خو هیڅ یې نه موندل.

د(دولت رام) کورنی دهرم سال دده دخپلې باغچې په یوه ګوټ کښې ؤ شاو خوا خوراجګ او تینګ دیوالو نه پر را ګرزیدلی او د ګڼو، لویو او سمسو روونو په ګور سوری کښې پټ ؤ دننه ئې د(توری مور) له بته څخه پرته نور هیڅ هم نه ؤ وریې یوؤ له بلی خوا څخه هم هیڅ لار نه وه ورته راغلې.

(دولت رام) دلونیو په څېر ژر ژرو روپرانیت او په کوم شی پسی یې په تلوار تلوار هری خوا ته و کتل او هولکی هولکې یې په هر ګوټ کښې لاسونه و تېر ول خوافسوس چه څه یې په لاس ور نه غلل.

په دغه وخت کښې نو د سهار رڼا څه خپره شوې ؤ ه د دهرم سال پر یوه ځینه لاس تر زنې نامېنده کښېنا است زړه یې له ګرومه ځله چاو د په خپل فکر کښې ډوب تللی ؤ د درستې شپې دویښتوب په سبب یې پله پسې ارزمۍ کښلې چه ناڅاپه چا پرزغ کړه:- بریالی او سی زویه!

(دولت رام) چه سر راپورته کړ که ګوری یو سوته ملنګ ورته ولاړ دی پاڅید په خورا ګروه (عقیدتمندی) او څوب (اشتیاق) یې دده هر کلی و کړ سر ئی ورته کوږ کړ ملنګ ئی لاس پرڅړۍ کښېښود او ورته وې ویل:

«خوشی خوابدی یې؟» (دولت رام) هېښ پاته شو او ملنګ یې په خورا تعجب و پوښتېد «ملنګ پاچا تاسی په زړو هم خبر یاست ما خو پخپله خواشینی تر او سه پوری هیڅوک هم

---

(۱) کالی ماتا (توری مور) دسیوا دماند ینی نوم دی هندوان یې پټ نمانځی او سړی یې په دروږ کښې وژنی

نه‌دی خبر کړی تاسی څه و پوهیدیء چه زه خواشینی یم؟» ملنګ ورته‌وویل: «د کوم شي په‌ور که چه ته‌خواشینی یې دخواشینۍ وړ نه‌دی بلکه ته‌لا باید خوشاله‌شی چه ځنی خلاص شوې (دولت‌رام) دملنګ په پښو کښې وولوید په‌ژړا اوزاریو یې ورته وویل:

«باچا! ته په‌هرڅه خبر یې راته‌ووایه چه‌څنګه ورك‌شو اوچیر ته یې موندلای شم؟»

ملنګ ورته وویل: «که‌زه‌غواړم چه‌په‌غم اخته‌شې نو به‌یې دروښیم-هغه‌شی چه‌توری مور (کالی ماتا) دلورینې اوپېرزوینی له مخی له تا اخستی دی‌ته به هغه باید خواشینی نه شی»

(دولت‌رام) په‌دې خبرو کله ډاډه کیدای‌شوای کړی‌وروځ یې دملنګ په‌چوپړ کښې تېره کړه چه گوندی به ملنګ ځنی خوشاله شی‌اوزړه به‌یې پروسوځی.

سباسهارچه یې‌شیدې ملنګ ته‌راوړې که گوری چه‌ځای شته‌جولا نشته.

هاله‌چه دولت رام لاهلك‌ؤ، یوه‌ورځ‌ئی نیکه(دنیاداس) ددغه‌خپل کورنی دهرم سال پردغوځینو ناست‌ؤ چلم‌یې څکاوه‌چه یوملنګ ورته‌راغیء (دنیاداس) له ملنګ سره ښه راشه‌درشه وکړه- کاله‌ته‌یې بوټ‌او څوورځی یې‌خوراښه میلمستیا ورکړه- کله چه ملنګ‌خدای په‌امانی ځنی‌اخیستله ورته‌ویې ویل:

«زویه! ته‌رشتیا نیستمن یې کنه؟»

(دنیاداس) په‌خورا ادب ځواب ورکړ «ملنګ باچا! زه رشتیا نیستمن یم یووخت زمونږ کهول په‌درست کلی کښی ترټولو موړاوبډای کهول ؤ- خو اوس موحال دومره ټیټ‌دی چه‌چاته سترگی نه‌لرو مونږ به‌څنګه بیرته‌پرخپل بورشو؟»

ملنګ‌ومسل‌اوپه‌خورالوري ورته‌وویل: ته‌ولی په‌دغه حال‌خوښ نه‌یې‌زویکه؟دبډایتوب له‌پاره ددومره څوب اوزیار څه‌ضرورت دی»

(دنیاداس) دملنګ خبره‌ونه‌منله اوپرخپله خبره کلك ولاړؤ ملنګ‌ته‌ئې وویل: څو چه ماخپله کوړمه‌ترسیالانو نه‌ده‌لوړه کړې له‌زیاره لاس نشم اخیستلای اوداهوډه نشم پریښوولای»

ملنګ چه(دنیاداس) پرخپل ځیل (ضد)ټینګ ولید خپله غوټه ئې وشنله د کاغذه یوه خورازړه اوخیرنه ټوټه‌چه‌څه پرلیکلی‌ؤ راوایستله سره‌خلاصه‌ئې کړه‌د کاغذپه‌منځ کښی دوری هیته‌څوټکی (صفرونه) اوترهغو لاندی دابیتونه لیکلی ؤ:

«که‌دی‌زړه‌وی‌چه‌دی‌مومې‌دمرادلوری — د ډاله پر قافیه راوړه یو توری
پرله واړوه بیا توری د(رادها) — چه‌یی مله کړی به پټ سربه شی آشنا
چه په‌ونه‌د(فلفل) کښې(آم)راشنه‌شی — د سهیل خواته دې ستادمطلب تله شی
لمرختیز پاو ته هلته چه رڼا ده — په دنیا پسې دخوږ وزړو، دوا ده»

(دنیاداس) چه کاغذ ولید ملنگ باچا ته ئې وویل: زه خو یې په یوه توری هم نه پوهیږم »

ملنگ ورته وویل: «دا درسره وساته، د توری مور (کالی ماتا) نمانځنه کوه ددې له برکته به هغه خزانه مومی چه په دغه کاغذه کښې یې رازلیکلی دی »

(دنیاداس) ملنگ ته ډیری زاری وکړی چه د کاغذه په رازئی پوه کړی. مگر ملنگ باچا تر دې زیات څه ورته ونه ویل چه «ته خپل عبادت کوه پخپله به په وپوهیږی »

په دغه ترڅ کښې د (دنیاداس) کشرورور «شنکر» راغی (دنیاداس) کاغذ ژرژر سره و نغښت او غوښته ئې چه له (شنکره) یې پټ کړی. ملنگ په خنداورته وویل: «زه دې وینم چه ته سر له اوسه دبډایی پرزهرلرونکی لار زهی یی. بېر بېزه مه په دی راز یواځی یوسړی پوهیدلای شی او بس هغه به هم هرومرو ستاسی له کورنۍ وی بل څوك چه هر څومره تر پی تپار کی وو هی دا راز نشی موندلای ځکه نو دا کاغذ هرچا ته چه دی زړه وی بی له بېری ورښکاره کولای شې »

ملنگ چه ولاړ (دنیاداس) ته له دی بېری خوب نه ورتی چه نه چه دا کاغذ به دچا او په تېره بیا د (شنکر) په لاس کښېوزی او خزانه به مومی ځکه یې نو کاغذ د لرگو په یوه خورا کلکه صندوقچه کښې واچاوه او په خپل کورنی دهرم سال کښې یې د توری مور (کالی ماتا) ترزاړه بت لاندی پټ کړ او دهری میاشتی په نوی به ورتیء د توری مور ترعبادت پس به ئې دامراه ځنی غوښت: «ای ترعقل بری! ما ته خود دغه پټ راز دپوهی طاقت را کړه» څورو ځی وروسته (شنکر) ورته راغی او په خورا کښه غاړه ئې ورته وویل: «هغه د ملنگ باچا کاغذ خوما ته راوښیه» (دنیاداس) په خورا قهرورته وویل: «ورك شه شوده! کاغذ ماغذ چیری ؤ؟ هغه تگ زماغلو لولره پریوه پاڼه څه لیکی میکی کښلی را کښلی وی او ما دوخته وسوځاوه »

شنکر څه ورته ونه ویل څوورځی پس یی له کوره مخ ونیو او بیا چاونه لید.

(دنیاداس) له هغی ورځی څخه خپل کاروبار پریښود شپه او ورځ به په ویښه او خوب د هغی خزانی په چرت کښې ډوب تللی ؤ. پای ته چه (دنیاداس) مړ کیده هغه د سرتر ستر گو گران کاغذ یی خپل مشر زوی (ثروت چند) ته وسپاره او پخپله یی د خزانی په ارمان کښې ساه ور کړه څرنگه چه یی د پلار تر خوله ساه وخته له (ثروت چند) شوده څخه هم خپله خواری پاته شوه د پلار پر مسله کښېناست او د کاغذ درازیه لټون کښې یی ټول ژوندو لگاوه شپه او ورځ یی د توری مور (کالی ماتا) بت ته گونډه وهلې وه چه گوندی ورځ یی ورسمه کړی.

(دولت رام) د (ثروت چند) مشرزوی ؤ د (ثروت چند) تر مړینی وروسته د پلار دغه میراث ده ته ورسید او هر څو چه به ئی ورځ بدیده هغو مره به د هغه کاغذ درازپوهی ته سر اښیدی خوله بده مرغه کومه ورځ چه کاغذ ورك شو سبائې ملنگ پاچا پیدا شود کاغذ دور کید او

سره څرمه د ملنګ راتللو (دولت رام) ته داخيال پيدا کړ :

«چه زما مراد ددغه ملنګ په لاس دی» ځکه ئې نو کور پر ښود او مخ يې پر بوښو پسی وګيو.

(٢)

(دولت رام) بو کال لوړی ژوری پسی ولټولی خودملنګ باچاپته يی هم نه موندہ يو روځ پر يوه کلی پښ شو چه نوم يی (دهارا ګول) ؤ. پر يوه دکان يی څه ډوډۍ وخوړه، چلم يی څکاوه پخپل چرت کښې ډوب ؤ چه ناڅاپه يې دمخامخ ډاګ په هوغه سر کښې يو ملنګ په ستر ګو شو چه پر خپله لار روان دی. (دولت رام) په لمړی سر کښې ښه ورته ځير نه شو خوورو سته يی سد سر ته ورغی چه داخو هغه ملنګ دی چه ما درست کال غاړی غرو نه پسی وغوښتل. چلم ئې په خورا تلوار له خولې هيسته کړ او هولکی پسی ورو غور ځيده په ملنګ پسی ئې ورځرمه کوڅه توله ګوټ ګوټ ولټوله خو نه ملنګ ؤ نه يی البوشا که څه تياره وه او څه نابلدی چه دی بې مجبوراً بيرته نا مينده هغه دو کان ته راستون کړ. د کاندار بې ويو ښتپد «په دی ځنګله کښې چه د کلی تر پای ښکار يزی څه شيونه شته ؟ »

«د کاندار ځواب ور کړ» په بوه زمانه کښې هلته ښار وان ؤ. خود کوم ستانه په ښيرا او ناءيه کيږه شوه او دهغه ښار پاچا اورعيت بې ټول يو ښا کړل ويل کيږی چه اوس هم هلته ډيری خزانی اوغمی شته خوڅوك بې هغه اورته په سپينه ورځ ستر ګی نشی ورښکاره کولای او هر څوك چه هغی خوا ته تللی دی بيا يی د کور مخ نه دی ليدلی (دولت رام) چرتی شو. شپه يی پر يوه پوزی (بوريا) باندی له غوماشو سره په جنګ او دبيتو دراز خزانی ځنګله او ملنګ پاچا په فکر کښې نيره کړه. دده خو بيتونه ټول په زړه ؤ په هره دقيقه کښې به ئې بيلا دده ذهن خپلی خوا ته باله او دهغه پټ راز دموندلو له پاره يی تفکر ته بيا بيا مجبور کاوه دشپی په استری بر خه کښې ئې ستر ګی سره ورغلې په خوب کښې ددغو بيتو:

که دې زړه وی چه دی مومې دمراد لوری * د(دا له) پر قافيه را وړه يو توری

پر له وا ړه بيا توری د(را دها) * چه يی مله کړې په پټ سر به شی آشنا

مطلب په دې ډول ورته حل شو چه د (را دها) توری لمړی برخه (را) نر دوهمی برخی (دها) وروسته کړه (دهارا) به ځنی جوړشی او ګول ددول همقافيه توری ورپوری ونښلوه د همدغه کلی نوم (دهارا ګول) به شی ددی يوې معما دحل خوښی (دولت رام) چست را کښېناوه او وپوهېدچه اوس دهغی غيبی خزانې څرك ووت کوم چه ما پلار او نيکه مې بې په تمه کښې عمرونه لګولی ؤ.

(٤)

صبا (دولت رام) کړه ورځ په ځنګله کښې دوری هيسته ټيره کړه چه ګوندی به

د ځزاني لوری وموهی مګر شپې ته مجبورانا ګام وږی تېری ګلی ته راستون شو. سباته ئې
څه خوری و ر سره واخیست په خړه یې لا د ځنګله لاریه خوله ور کړه. غر مه د یو ی
د اسی وستی (تالاب) ژی ته ورسیدچه له هری خوانری نری لاری ورته راغلی و ې
ر نی اوبه د کروړو اووښو په منځ کښې له ورایه څر کیدلی (دولت رام) پریوه نړیدلې
ځینه ور کښته شو په تلوار تلوارې ډوډی ونغړله اوبه یې پرو چښلی او د وستی دشا و خوا
کنډ وا لو په څرك پسی راوخو ځید. چه د وستی لویدیز پلوته راو ګرزید که ګوری چه
د (فلفل) په ونه کښې (ام) راشنه شوی دی سدبې له سره والوت اوهېش ښې ود ر بد ځکه
ددې بیت:

چه په ونه دفلفل کښې (ام) راشنه شی * د سهیل خوا ته دی ستا د مطلب تله شی

مجسم حل بې ولید، له خوشالی په کمیسه کښې نه ځائید. اوپه خورا تلوار یې د سهیل
(جنوب) خوا ته مخه و کړه څه چه پرمخ ولاړ په داسی بوه ګڼ ځنګله کښې ونښت چه
و تل ځنی ګر ا ن ا یسپدل خوده د آم او فلفل ونی ته ستر ګی نیو لی و ې ا و سهیل
لور ته یې اوزده اوزده ګامونه اخیستل. څه چه لاپرمخ ولاړ لمرختیز پلو ته یې دیو ې
کنډ والې پر جګو ځګو دیوالو ستر ګی ولګیدې او ددې بیت:

لمر ختیز پلو ته هلته چه ر نا د ه * په د نیا پسی د خوږ و ز ړ و د و ا د ه

په حکم یې په خورا خوشالی او تلوار هغی خوانه هڅه و کړه څه چه پرمخ و لاړ پر یو ه
واړه وران ویجاړ (دهرم سال) پیښ شو که ګوری چه یوې خوانه ا یر ی پر تې د ی
(دولت رام) ورو ورو په خورا احتیاط د دهرم سال بوی کنډو کپرخونی ته پسی ورتیر شو
سر یې ورننه یوست هلته نه کوم بت پروت ؤ او نه کوم څوك ؤ خو یوه پلو ته یې دملنګا نو یو لنګ
یو تغر ګی او یوه بدنه په ستر ګو شوه په داسی حال کښې چه ما ښام نژدې، کالی لیر ی،
او دلار موندل محال ؤ په دې تشو نورو درنو کنډ والو او بی سرو پایه ګنو ځنګلو کښې دیو ه
سړ ی داستو ګی نخښو (دولت رام) زښت ډېر خوشال کړ پر هغه لویه کر کنډ ه چه
د (دهرم سال) له رانړیدلی دیواله څخه ارغښتې او د (دهرم سال) مخی ته پرته وه کښېناست
او بیا یخپل چرت کښې ډوب شو. ناڅاپه یې ستر ګی دهغی ډبری پر ځینو لیکلو برخو
و لګیدې چه ډبرې نخښی یې هغو ټکو او نخښو ته چه پر کاغذ ه لیکلی وې بېخی ورته وې
که څه هم دتورو او نخښو یوه برخه الوتې وه مګر دا ښه ترا ځنی څر ګند بدلای شوای چه
د ا او هغه په کاغذ لیکلی نخښی څه توپیر نه سره لری د کاغذ نخښی دده ترستر ګو دو مره
تېری شوی وې چه په زړه کښې یې نقش وې نن شپه ده هغه مرادته ځان خورا نژد ې با له

چه په کلو کلو یې په نیمو شپو کښې د توری مور له تبه څخه په سر تور سر او اوښلنو ستر گو غوښت مگر له دې بېری یې زړه دربیده چه نه چه هغه ملنگ تر ده ده د مخه پښ شوی وی او یا اوس یې په یوه وړو کې تیرو تنه (غلطی) د کلو کلو خوارۍ حبطه نه شی کله چه به یې زړه ته داور تېره شوه چه زه پر خزانه ناست یم لېونی غوندی به شو او له خوشالۍ به په ځان نه پوهید.

(دولت رام) ژرژر د (توری مور) نوم په ادوم اخیست څو، د ځنگله په توره تیاره کښې دالوتونکو شخول سره پور ته شو.

(٥)

(دولت رام) حیران ؤ چه څه وکړی ؟

نا څا په یې ستر گی درنما پر یوه نرۍ وړانگه ولگیدلې چه د ځنگله د گورو ونو د گڼو پاڼو تر پیوستو هولته لیری څر کېدله په خورا احتیاط را پاڅېد زړه یې دربېده ورورو درنما خواته ورو خوځېد چه لږ څه ور تیر شو که گوری چه د یوې ونی شاته هغه ملنگ ناست او هغه پرا سراره کاغذ یې مخی ته غوړولی او په یوه چاړه دا یرو پر مخ داور رنما ته هغه مطالب حلول کوم چه (دولت رام) یو کال پښې پسی لڅی کړی وې او دده د پلار او نیکه ټول عمرونه د دې راز موندلو په لاره کښې صرف شوی وو

دولت رام چه نن خپل هغه کاغذ د یوه هسی ټگ او غله ملنگ په لاس کښې ولید چه دې یې د کاغذ پرور کېدلو له خواشینۍ څخه منع کاوه او نې ورته واخیست او له قهره ورته رېږ دېده.

ملنگ د نخښو مطلب رایوست په چاړه به یې مځکه میچول او تلی به، کله کله به ودرېده او د نامیندو په ډول به یې سر وښور او وبیا به یې له ځانه سره څه شمېرل په دې ډول درسته شپه پر تیره شوه د سهار سړو وزمو چه دونو له څانگو او پاڼو سره لوبی شروع کړې. ملنگ هم کاغذ و نغښت او ولار (دولت رام) تر هور شو او دا یې زړه ته ولویده چه د ملنگ بې ملگرۍ د کاغذه په راز پوهېدل گران کار دی مگر دا یې هم په زړه کښې وویل: هغه حاسد او ټگ ملنگ به چه د دغه مقصد په لاره کسې یې پخپله شپې وورځی پر سر اخیستی دی څنگه زما مرسته کوی ؟

ځکه نو ده له ځان سره دا فیصله کړه چه په خورا احتیاط سره به منگ څاری. او دده اعمال به تر غور لاندی نیسی.

بې کلی څخه بل ځای د خوړلو د پاره د څه موندلو امکان نه ؤ نو یې کلی ته د تللو اراده وکړه دلمر وړانگې چه راخپېری شوې (دولت رام) له هغې ونی راولاړ شو چه ټوله شپه تر لاندی پټ ؤ او هغه ځای ته ورغی چه ملنگ پرا یرو خپل حساب کاوه هغه نخښی یې وکتلی خو هېڅ په ونه پوهېد شاو خواته وگرزېد راوکرزېد خو بیا هم څه ور څر گند نه شول

کله چه دلمر تېزی وړانګې دځنګله له ګڼو ونو تر سیو رو و ر و لو ېد لې کلی ته ئی مخ ونیو شا و خوائی څار له چه هسې نه چه ملنګ ئې چیری و و ینې دا شپه ئی هم په یوډول سبا کړه په دابله ورځ ئی دیوی ونی سیو ر ی ته بر ېځر (نا شته) خوړله که ګوری چه هغه ملنګ دده لور ته را روان دی نژدې چه ور ته را غی او به یی ځنی و غو ښتلې (د و لت رام) او به ور کړې ملنګ چه او به چښلی ده یې په ځیر ځیر مخ ته کتل پېلا یې (لکه دچاله ستر ګو پرده پورته شی) په خورا تعجب پرزغ کړه ته (شنکر) نه یې ؟

ملنګ ورته ویل : هو !

(دولت) رام ورو غور ځېد ور تر غاړه شو زړونه صاف شول اور ښتیانی مینی سره څر ګندی شوې (شنکر) د کور حال واحوال ځنی وپوښتېد ده ورته وویل « له کومی ورځی څخه چه تا هغه کاغذ اخیستی او له کو ره ر اوتلی یې ما هم په تا او خزانه پسی پښی رامچ کړی دی « شنکر » په خورا تعجب ورته و کتل او وئی پوښتېد ، تر اوسه لا په خزانه پسی ګرزې ؟

(دولت) رام جواب ور کړ ما خپل ژوند دهمدغه له پاره وقف کړیدی (شنکر) چه دا وار وېدل (دولت رام) یې ترلاس ونیو پخپله کوډله یې ننه یوست او یوه پرانیتلی وره ته یی و دراوه انسانی جذبات په ارادی واك کښې نه وی ده چه هلته هغه څه ولیدل چه یو کال یې پښی پسی تنا کی کړی وې لېونی غوندی شو په یوه خونه وت په بله ننوت — کله چه ده پخپل خیال دخزانی ټول خونی او دخونی ټول ګو ټو نه تر نظر ښه تېر کړل دبیرته را وتلو له پاره یې مخ را و ګر زاوه مګر هرڅو مره چه یې زیار و یو ست و ګر ز ید را و ګرزید دبیرته را و تلو لاره ئې نه موند ه پای ته له ډېری ستړیا دسرو زرو پر یوه ستن (ستون) چه دخونی په منځ کښې پرته وه وغزېد یوار یې خپلو پښوته فکر شو چه پر زیږوالما سو با ندی د ګر زېدلو را ګرزیدلو له امله ترخی ترخی چاودلی په وینو لژندی او سری وینی داری ځنی وهی (دولت) رام چه دا حال ولید د صورت شومه ئی وختله نور نو پاڅېدلای نه شو دغسی په پرو تو یې شنکر ته ورزغ کړه او مرسته ئی ځنی وغوښتله (شنکر) و ر ته وو یل :

ډیر وخت کیږی چه زه په تاپسی گرزم مگر ته می و نه موندلې او تا ته نه در ورسېدای شو ای که ته دراوتلو خیال لری د خزانې فکر له زړه وباسه نور اوتلای شې کنه نه .

(دولت) رام چه کلو نه کلو نه په دغه غم کښې تېر کړی ؤ او اوس اوس مرادته رسیدلی ؤ څنگه یې کولای شوای چه تر خزانې تېرشی پر خپلو جا مو یې لاس ولگاوه او خپلې په وینو لژندی تو کر تو کر پښې یې په وتړلې اود دباندی وتلو له پاره پا څید هر څه چه وگرز ېد دوتلولاره ټپه تړ لې وه

(٦)

ماښام شو په سبایې هر څومره چه (دولت رام) د وتلولاره څار له هغومره نا مېده کېده پای ته یې مجبوراً دخزانی هیله له زړه وایستله سمد ستی دوتلولاره ور څر گنده شوه په تلوار یې شنکر ته ځان و رور سا وه (شنکر) چه دولت رام لوېدلې کولکونه، الو تې بڼه اودنامېندی له اوښو ډکی ستر گی ولید لې ورته وې ویل :

های های ته ولی دومره پرزرواو جوا هرا تو مین یې تر څو چه سړی په دنیا او دولت پسی پښی لڅی کړی وی (عبدالدینار) یعنی دزر و بنده وی د دنیا مثال هم ددغی خزانې غوندی دی چه اوس اوس ته تری راوتلې یی - تر څو چه ستا په زړه کښی حرص او تمه وه ته بندی وې مگر له کومه راهېسې چه دې داحرص او تمه له زړه وایستله خپلواك او آزاد شوې ددنیا او هغه دتفکر حال کټ مټ دغسی دی تر څو چه سړی په دنیا وی غوښتنو کښی اړوی روح یی ککړوی خو کله چه انسان د ژوند د طلسم په راز پوه شی آزاد، خپلواك اود خپلی آزادی څښتن شی .

مترجم : ښاغلی زین الله (رحیق)

حضرت عمر او معاذ ابن جبل (رض)

حضرت معاذ (رض) ښکلی ځوان، دښه خوی خاوند، اولوی زړه سخی سړی ؤ، دسخاء او جود اندازه ئې دیته رسیدلی وه چه دمال راتولول او ساتل ئې زړه قدر هم نه ؤ، ددې دول کریم النفس سخی عائدات که ډیر هم وی نودده خرڅ ته کله رسیدلای شی، تردی چه خپل مال او شتمنی ئې په دې لار کښې ولګوله او بالاخره ئې په پور اخستلو پیل وکړ، په دې اندازه پور وړی شو چه منقولی او غیر منقولی اموال ئې تول دپور داحاطې لاندې راغلل : کله ئې چه دعائداتو کوم صورت پاته نه شو نو پورونو ترینه دپور په غوښتلو پیل وکړ - حضرت معاذ (رض) محمد رسول الله (ص) ته ددې عرض دپاره ورغی چه پور غوښتونکو ته وای چه له خپلو پورونو څخه څه نه څه واخلی او څه پر ېږدی، پورونو سره ددې چه محمد رسول الله (ص) ورته دڅه پور پر ښودلو ایماء هم وکړه، حضرت معاذ ته ئې پور پرې نه ښود. بالاخره په خپله محمد رسول الله (ص) دحضرت معاذ اموال ویلورل او دده پورونه ئې پرې خلاص کړل. حضرت معاذ (رض) چور بوتش لاس پاته شو چه نور ورسره دهیڅ شی درك نه کېده. دمحمد رسول الله (ص) دده دې حال ته فکر ؤ، چه مکه معظمه فتح شوه نو حضرت معاذ ئې د « یمن » په یوه علاقه باندی والی مقرر کړ، ددې دپاره چه ګذاره ئې ښه شی او هغه مالی ضائعات چه ورته رسیدلی دی هغه په هغه پیسو چه له بیت المال نه ئې دخدمت په عوض اخلی، پوره کړی حضرت معاذ (رض) له بوې خوا دیمن والی ؤ له بلې خوا ئې ورسره د تجارت کار هم کاوه چه په همدې شان ورسره په پوره اندازه مال پیدا شو. دمحمد رسول الله (ص) له وفات نه وروسته حضرت معاذ (رض) مدینې منورې ته راغی چه دصدیق اکبر (رض) دخلافت وخت ؤ، حضرت عمر (رض) ورته عرض وکړ چه دحضرت معاذ سره دو مره مال پر ېږده چه شپې ورځې ئې ورباندی تېر ېږی نو ترینه په بیت المال کښې تحویل کړه! صدیق اکبر (رض) ئې په جواب کښې ورته وویل چه محمد رسول الله (ص) ددې دپاره دیمن والی مقرر کړی ؤ چه دتا وانو نوتلافی ئې وشي، نو په دې بناء به ئې زه هم ترینه وانخلم، که په خپله ئې بیت المال ته ورکوی د هغې ممانعت نه شته.

حضرت عمر چه ولیده چه حضرت صدیق اکبر (ض) ئې خبره قبوله نه کړه نو حضرت معاذ (رض) ته ورغی او ورته ئې ویل : چه دغه مال په بیت المال کښې ورداخل کړه.

حضرت معاذ (رض) هم ورته وویل چه زه محمد رسول الله (ص) : دې دپاره یمن ته

پاته په ۳ پشتی کښې

په دفتر کښې نه ځائېږي که ئې کاږي
چه ګیلې کړم درحساب د زړه له لاسه
چېرته و و ینې یومخ پسې مې بیا یې
پربستر نه کېږي خواب دزړه له لاسه
په امید د نمکین دلبر مدام یم
دهجران په اور کباب دزړه له لاسه
په کوڅه د بدنامۍ کښې چه ئې ګډ کړم
راته شوی دا خطاب د زړه له لاسه
زه دلې دی په کوڅه کې د یار ګرځی
یم هر ګوره په عذاب د زړه له لاسه
بل څه نه دی زه «حنان» چه مدام سوځم
دهجران داور په تاب دزړه له لاسه

* * *

دیار له خواوی نسیمه راشه
مشك عنبر دی را باندی پاشه
دقدم خاوری دی بولم یاره
زما په بستر کې ژرتو تیاشه
د زړه غنچه مې په تا خلا صېږی
بېتا نه مرمه زما بقاشه
تن فرح مومی ستا له قدمه
مومیا مې د ما تو اعضاشه

د هجر د ر د یم ر ېز مر ېز کړی
د د غه د ر د می ته مسیحا شه
ر قیبه ر ا شه چه صلحه و کړ و
جنت دې ستا و ی کو څه ئې ز ما شه
پروخت دبوس ئې حیا مانع شه
«حنان» قربان ترنازو حیا شه

* * *

چه دناز پر آس جولان هغه پاد شا ه که
هغه څوك دی چه جلب د آ ه نگ ه که
د گل ر خو قر بت مو می غنچه طو ر
دز ړ ه و ینی چه غذا سبا بېگا که
نصیحت دچا په کار نه دی په عشق کښی
جاهل پیرمر ید یو ه گړی گمر اه که
چه د ښمن شو ملا یم ا حتیا ط بو یه
په نرمی اوبه دلاندې کا ر د کا ه که
خپله غېږ چه خالی و ینم ژ ړ ا ر ا شی
په هغه دم چه ها له په غېږ کښی ما ه که
خیال دې قتل کړم په صفت دبانو گا نو
دبادشاه له مخه جنگ وا ړ ه سپا ه که
هېڅ تعریف ئې دخولی نه کېږی «حنانه»
اوس حاصل د کلام داقصه کو تاه که

د ګل رخوله قربته څوك پرهېز که
له چراغه پروانه کله ګرېز که
هغه څوك دی چه د دید طاقت ئې راوړی
چه پناز د تور و ستر ګو خنجر تېز که
لائې ستر ګې د صیاد نوې لیدلې
د هجران قصاب ئې غوښی رېز مرېز که
چه په سر د جهان پوه شو هغه ژر ولاړ
له مکتبه ځی هلك چه سبق تېز که
ضرر رسی له همجنسه په دا عصر
ښېښه و ګوره له سنګه ډېر پرهېز که
د ګل رخو په دیدن عاشق ګویا شی
د ګلانو په موسم کښی بلبل رېز که
کې د لبو و بوسې ته نه رسېږې
اې «حنانه» تور کاکل ئې دست آوېز که
بېلتانه دی هسی وایستم له وا که
چه وهی می هر مېږی او مچ بېبا که
لیاقت زما د سر کله شته هومره
چه وصلت غواړی مدام ستا له فترا که

ستا د حسن آواز ه خط کړه بلنده
شعله پور ته شوه داورله دی خاشا که
چه ئې ستا په جدائی واز مولم
داسمان به اوس چاو دلی وی تنها که
سره لاله به می له قبره څخه زبیزی
که می یاریووار گذر وکړ تر خا که
کې هر څو منع کوم له عشقه نه شی
هسی‌شان می زړه وتلی دی له وا که
خپل اشنا دې ملا تړلې ده وکین ته
ای «حنانه» څه گیله کړی له افلا که

* * *

کوم گل‌رخ دی چه بیاسپل دچمن که
چه بلبل په ذوق و شوق هسی گفتن
کې د لبو د شهید خاوری‌ما روخوری
د حیات او بـه‌به توی‌لـه دهن کـه
خپلی ستر گی ئې و خط ته دی حیرانی
که آهو دی په سبزه کنبی چریدن که
توری زلفی ئی باج اخلی له سنبله
دغه سپین رخسار ئې ناز پر نسترن که
کوم شوخ چشم نن په سیل د صحرالحی
چه آهو تر پخوا مشق د رمیدن که

که شاهان تا را جوی په زور ملکونه
خوبرویان دزرونولرې په ښه سخن که
چه تعریف د هغه غاښو کړی «حنا نه»
مسخری مدام په درد عدن که

* * *

هغه څوك چه د گل رخ هوا داری که
له چشمانو دې دوینو رود جاری که
و نخچیر ته دخپل زړه په دا حیران یم
چه کباب لا همو زابې قراری که
حذر بوئې له نیم خوا بو ستر گو ولی
له غلافه کښو د تیغ زخم گاری که
د بسانو خنجر د قد نیزه خط زغره
سپور د ناز پر آس د قتل نیاری که
و دا مکر تې د ستر گو حیرا نیږم
چه د زرونو لو تول په بیماری که
په اول دبدن دی سرور ته پیشکش کړی
هر سړی چه د ښه مخ خریداری که
چه د عصر بتان حسن په زر پلوری
دا «حنان» دی اول خوښ په بیزاری که

* * *

دغه ستا گرم کا ته زړه د یوا نه که
مخ دې کور د آئینې پری خا نه که

چه دی خیال دخط وخال ساتم په زړه کښې
عاقبت به می له عقله بېګانه که
بیا به نه مومی څوك وصل ستا دزلفو
مګر زړه شګاف شګاف لکه شانه که
چه توسن د هوامیل وکه وتاخت ته
ژر بی سم پر لار د هجر تازیانه که
چه زاهدئې د دن طاقت رانه وو ړ
په او راد ئې ځان مشغول کړ بهانه که
خیال چه پېښ شی ستاد تنګی خولې وچاته
ځنی پاته صومعه و بتخانه که
څه غرور کړې د دنیا په سرای حنانه
یو ساعت به ئې فلك د رو یرانه که

* * *

سپرېد ووته چه قصد دا دلفریب که
له هوسه ورته خلاص کو ګل رکیب که
زما خوښ داستا کاته دی ستا دستر ګو
با دام کله د با دام د ګلو زیب که
زه په داله شکه مرم خدای را خبر دی
چه دیار د زنې خوند څر نګه سیب که
د عاشق له ساړه آهه حذر بوئی
آئینې لره پیدا نفس آسېب که

له بد رنګه بد کا ر و نه عیب نـه دی
له ښه مخه سره ښه خو یو نه زیب که
په بها نه د بیما زی زر و نه یو ره
د ا ستر ګی عجب مکر عجب فر یب که
چه د وخت بتان ښایست په زر و پلو ر ی
د ا «حنان» دې د وا ره لاس په خالی جیب که

* * *

څو ك چه مینه پر ا ستی که
ژ ر په لا س د عشق هستی که
هغه کا ر غنی کړ ا ی نـه شی
چـه عـا شق ئې پـه نیستی کـه
د عشق ځـا ی معین نـه د ی
مسلـما ن بت پر ستی کـه
د عشق بو ی چه پـه د مـاغ شی
تر با ر لا ندې ا و ښ مستی که
چه د عشق سـو ا ر ه پر را شـی
ز ر د عقل آ س سستی که
څـو ك د عشـق بـې هسـتـی شو
د مـهر ه کـا ر تنـګـد ستـی که
«حنا ن» عشق له لوړ ې پر بو ست
چه ر ضـا ئی پـه پستی که

چه غمزه و کرشمه ناز دلربا که
توري سترګې په وکښه د زړه بلا که
توري زلفې په درازی د خضر عمر
او لبان ئې د مسیح د درد دوا که
باریکی ته ئې د ملا وېښته حیران دی
تنګه خوله ئې پر غنچه باندې خندا که
یو کاږه کاته ئې د واړه کون ارزی
چه نظر د سترګو یوا تر قفا که
مرجان ژړه له وینو ډک شوستا دلبو
خجالت دی د غاښو د ریکتا که
له خدا ستا د مړو سترګو صحبت غواړی
چه نرګس عصا په لاس ولاړ دعا که
نه کړی ضبط د خولې بلبل پروخت د ګلو
دغه ستا د رخسار د ید «حنان» ګویا که

* * *

چه می زړه کباب د مخ په اور دلبر که
د عشق شور می نمکدان کاسه د سر که
چه له رمه دا آهو ئې ګهواره دی
هغه طفل څه ارام زما په بستر، که
که ومات لښکر ته امید د ظفر نه شته
مات مژګان ئې د زړو ښکار لا بیشتر که

ماوې حال بې دبیمار وسترګو کاږم
د بیمار د رګ طپش تاو د مسطر که
هنرمند ته له هنره ضرر رسی
دصدف کښتۍ طوفان آب د ګوهر که
څه حاجت داستا مژګان لری په زړه کښی
چه محراب ته دابرو یو تل نظر که
په صندلو درد سر وائی ور کېږی
صندلی رنګ دحنان زیات دردسر که

* * *

له غروره چه و لوړې ته خاته که
عاقبت به له دې لوړې پر ېواته که
له خامۍ دعشق بلبل په نار و سر دی
پروانه خاموش په اور کښی الواته که
چه دې خیال راڅخه ولاړشی په هغه دم
روح له تنه رخصت وغواړی واته که
په یوه کاته می زړه پاره پاره که
دتېر وتور و ګذار دیار کاته که
دفردوس دګلو بوئی می په دماغ شی
چه دې خیال زما و لوری ته راته که
ددراز عمری له ونی مېوه وخورې
هر معشوق چه دعاشق د زړه ساته که

گومان مه کوه خونن وی په سر بوري
چه «حنان» به ستاله دره جاروا نه که

* * *

دهجران سپرو دي هسی کړم یا بماله
چه فارغ ئی کړم له عیش وله وصاله
زړه می ستاله لاسه هر ساعت خراب دی
لکه وکه په مکتب کښی مرغه لحاله
خپلې ستر ګې حظ له خپله خطه اخلی
غزاله وی په سبزه سره خوشاله
له ساده مخه طمع د بوسی مکړه
هلته خواست کوه چه خط شی دوه مثقاله
تر سینه ئې زړه معلوم په نزاکت دی
لکه کانی جلوه که آب زلاله
که هر څومی در ته روی دبیر شفیع کړ
خلاص دی نه کړم در قیب سپی اچنجاله
داتور خال دی پر رخسار دیار «حنانه»
که بورادی پر ګل ناست بې پروباله

(* * *)

عشق دي بیار اته زانګو کړه غروسمه
که ولاړ که ناست که پروت زانګم له نمه
چه په خپله عشق ته زغلې ګیله مه کړه
دامتل دی خود کرده د اروله کومه

تن می هسی کړ ضعیف د قراق اوښو
چه ګېله را ته د شوا شو صنمه
ښاخ چه مات شی ګلان نه که بې ستا زلفې
آفتاب رنګه ګلان کړی له هر خمه
بخت په شپه کی ستازه د زلفو خوب و نه کړ
چه پر ېشان خوبو نه وینم دا له کومه
غمجن زړه می و ګل رخو ته خلاص نه کړ
ډك له ګرمه زړه به قبر لره ځمه
باطن زړه «دحنان» ډك دی له سرو وینو
لکه زخم خندا کړی له دی عالمه

** ** **

چه تیر یږی پرما خوار ستا له هجرانه
مسلمان یم رحم کړه نا مسلمانه
خیال دی و لاړ او ښی می هم ورپسی ولاړی
لکه د رومی لښکر ور وسته له سلطانه
له کتو د آهو چشمو غافل مه شه
تر با ټولاندی کاته لری پنهانه
په مجلس کښی د جهان پر خوله مهر کښیږده
خپل سر ژرو خوری پسته چه شی خندانه
معشوق طفل چه په قید د ضبط کښیوزی
چه شی پورته سروه ووزی له بوستانه

په ښېښه کښې د آسمان هره دوا شته
د عشق درد مدام فارغ له دی درمانه
څه یو ښتنه د غمزی له رهزنی کړی
زنخدان ئی له سرو ډک دی « حنانه »

** *

که ئې ناسته وی کښېنوی سل آفتونه
یا څول ئی یا څوی سل قیامتونه
چه دخط په خیال ئې سر پرز نګون کښېږدم
نحو پلدار شم د غمو په برا تونه
نوی خط ئې ځکه زما د زړه پای بند شو
غزاله مومی آرام له مېږ تونه
چه پر تورو سپین می اړه وی پوهېږم
چه کوې را باندی نور آزمو یښتونه
ستاله لوری می زړه نه راځی دلبره
که کوم ور نه هزار رنګه خواستونه
چه په بد راسره یارو او ښت پوهېږم
چه ئی غوږ کړ د رقیب حکایتونه
د ګل رخو مینه تند ره ده حنانه
ریږ مریږ ئې کړه دتن عمار تونه

مجلهٔ

ستا وصل مې نصیب شو که اختر دی نازنینه
طالع مې یاری وکړه چه مې زړه خلاص شو له کینه
ستا خیال چه له مالاړ شو په نظر دخلقو حوار شوم
قیمت دګوتې څه دی چه شی خلاصه له نګینه
داستا مخموری سترګی زما دوینو رغبت نه که
له هسې سروشرابو دا پیاله نه شوه رنګینه
څوزما دزړه په کنج کښې ځای پیدا اوله نه کړی
ممکن نه دی غبار چه راولاړ شی له زمینه
په خپله بلارا وړی یاوه ګوی له خپله ګفته
خندا دزړګی وکړه رهبری له دې شاهینه
ستا له زلفو له رخساره زاهد هیڅ فیض یونه وړ
دړانده په دود محروم وی همېشه له تورو وسپینه
چه کاږی «حنان» نقش ستا دتورو سترګوو زلفو
سنبل په خوله نیولی غزاله راځی له چینه

* * *

محبت دې اواره کړم له وطنه
وطن څه دی له خوراك له اغوستنه
بدخویی رقیب دروښووه بدخوی شوې
روغ سړی اخلی مدام یون له پمنه
عیب نه دی که له نازه لېونۍ شوې
مېوه نه کوی هرګز دسیوری ونه

شوخی ستر ګی وړی بهره له شوخه مخه
طفلان تل د ګل دستې وړی له چمنه
د سهار سپېدی راوختې په شپه کښی
که تر زلفوئې رڼا شوه له ګردنه
خدا یه خوار کړې زړه لرم په واک می نه دی
په هر ځای باندې بندی وی په کننه
داحسان لاس کړه اوزده عالم به خپل کړی
بر د ېوال بتان محکم شی له روغنه
په دیدن د ګل بلبل هر دم چغېږی
ستا په دید «حنان» آشنای شی له سخنه

(* * *)

د یار جبین دې تر نمر روښانه
چشمه د حیات ئې له زنخدانه
زلفې طعنه که د چین بر مشکو
لبان ئې باج وړی له بدخشانه
د لندۍ پرموتی زاغ د تصویر دی
که ئې تور خال دی دور ځو له میانه
ستر ګې ئې زیاتی دی له نرګسه
عذار ئې زیات دی له ارغوانه
بانو ئې غشی ورو ځی لندې دې
خطا ئې نه ځی تیر له نښانه

زما په ژړائي مخ تازه ترشي
ولې تازه شي ګل له بارانه
د یار جفا به دې ترحده تېر که
دعشقه لاس واخله میرزا «حنانه»

* * *

څه به وایم دشوخ چشمو له افسونه
تاراج کړی دی دسلو زړو کورونه
خیال د چا دزلفو لار ده پکښې کړې
زړه سوری چه شو ځنځیر له دی ناخونه
چه دزړو پرزخم مالګی پاشی څوك دی
په هېڅ رنګ پروانه کاد چا له خونه
له غیر تې دخط زلفې پېچو تاب شوې
پېچه کېږی مدام مار له مېږ تونه
چه رکاب ئې دپېری له ستر ګو جوړوی
په میدان کښې بی پراته وی خود سرونه
دتب جن دعشق دو اعناب دلب دی
دا نسخه می یاده وه له افلاطونه
داو بوزغ ژرنده نه پرېږدی وخواب ته
د «حنان» اوښکو په څرخ کړه آسمانونه

* * *

اند ېښنه را ته د ستر ګو د قصاب شوه
دتن وینه چه می اوښکه دکباب شوه

دغمزې نشتر ئې کا رو کړ په زړه کښې
چه باقی څه وینه ما ته وه شراب شوه

جانشین په زړه کښې خیال د کوم مهروی دی
چه می خونه په رڼا لکه آفتاب شوه

داد چا د خدنګ خیال نن یکښې ګرزی
نا آرامه می سینه لکه سیماب شوه

درد غاښو را پیاد د کوم دلبر دی
هره ستر ګه چه می موج وهی دریاب شوه

داد چا په خیال زړه هسی پروا نه دی
دمجلس ګرمی چه شمع د احباب شوه

بیهوده لافی د زهد کړې «حنانه»
غاړه ستا بنده د زلفو په تناب شوه

* * *

هغه ورځ چه ستا په عشق می ابتدا کړه
تر که ما له ځانه خپله مدعا کړه

دقلم په دود می توری و بنی قی کړی
هغه شپه چه می دا ستا دخط انشا کړه

تر قاصد دی جاریدم و پېژاندنه شو
چه راتی و تا ته مخ و ما ته شا کړه

تر پخوا چه می ښادی کړه ستا د وصل
اوس هغه پخوا کرده فلك را بیا کړه

چه می پاس پرلاس کچکول دبې ننګۍ دی
ستا له حسن درو یزه کوم څه را کړه
بې عرضی دهجران هسی رنګ ضعیف کړم
چه ناله می ستا ولوری ته عصا کړه
درقیب دپند پنبه دي وه په غوږ کښی
چه «جنان» در ته ژړل تا به خندا کړه

*.**

را رسېږی دا جفا له دلربا یه
چه هډو لره می ته را ځې هما یه
هسی نه چه نن عاشق یم دخوب رو یو
ما درزا دمی عشق راوړی دی له ځا یه
ترمجلس دعشق به ولی نه جارېږم
چه شاه هلته برابر دی له ګدا یه
دربو هېږم چه له قهره راته ډک ئې
چه په زره کښی څه لرې راته وو ایه
چه نظر می شو پر غشو هم پر تو ره
دا حول په شان نظر می شو دوه ځا یه
چه دې خیال راتی زړه مخ لره درووت
کورنۍ وزی مېلمه لره له سرایه
هېڅ ئې نه ورسېدې په غور ولی
د «حنان» چه ګذران دی له وای وا یه

ومی سوخرمن د صبر پری ز و یه
سر تر پا ناز و ادا ا تشین خو یه
عالمونه قتلوی پر وا یه نه که
کج ئې زلفی کج کا نه او کج ا بر و یه
خوله غنچه خط بنفشه عذارئی گل د ی
د پر بې ر حم بیو فا د ی عنبر بو یه
وسبزه نه ئې دخط ریحان حیرا ن د ی
گل ئې تل اخلی در نگ سبق له ر و یه
په خر و هسی ز نگ شکر ا فشان دی
چه تو نی ئې تعلیم و ر ی له گفتگو یه
جلوه گر د ی ستم گر دې تیز نظر دی
د و ه عا لمه ئې بند ی دی په دو ه مو یه
په خنجیر داستا د زلفوئې بند ی کړ ه
لیونی شی «حنان» ستا له جست وجو یه

* * *

ز ړه می بند هسی په زلفو شو یك باره
چه هر گر نه شی و تای لیدې ترا فساره
هیڅ دخط په وخت له زلفو غا فل مشه
د بهار پر مو سم و یر ه کړ ه له ما ر ه
شوخی ستر گی برخه وړی له شو خ مخه
طفل نه وو زی په تش لاس له گلز اره

ستا دقد نهال د ستر ګو بادام و کړ
ګڼه چا لیدلې سروده بار داره
دعقیق د آب په رنګ ئې نن معلوم دی
هره ورځ چه جامه واغوندی ګلناره
خطا بر خه ازلی د آدمی ده
د امیراث وررسېدلی دی له پلاره
چه دی نه رانیسی د رڅوك په کودری
ژبه وتړه «حنانه» له ګفتاره

* * *

چه بتان شی هم صحبت د آئینې
بو په سله شی حیرت د آئینې
طمع مکړه دبوسې له ساده رویه
نه دی چښلی چا شربت د آئینې
دهغه شوخ حسن خیال په څه نګاه کړم
طاقت نه که لکه صورت د آئینې
په خپل حسن ئې خبر که ځکه هسی
ښکلی ډېر کوی عزت د آئینې
له صاف دلوراز دزړونو پټ ښه نه دی
فهم وکړه پر صورت د آئینی.
پر اتله دخط که حسن زیات شی ښائې
په ایرو وی شرافت د آئینې

چه د عشق په اور لحان ویلی که «حنان»
خو با ن هلته که حرمت د آ ئینې

* * *

نن دې بیادی د رقیب خبر ې نغو تی
چه له د ر د ه د ې لبا ن ر انه مبتی
له غیر ته د شا نې می ز ړ ه ار ه شی
چه بې فهمه دی په زلفو وهی ګو تی
عشق دې و ر و ستم تر هسی لپو نتو به
چه مدام پاره ګریوان یم خیرې ختی
دا د لا ړ و په شر بت ئې لبان مبلی
که له قهر ه ر ا ته کړ ی خبر ی تتی
ستاد مینې د نهال په سیوری ناست یم
چه ر ینبې ئې شوې زما ترزړه جا ر و تی
ستا رقیب کله زما پر مخ را تلا ی شی
دمړ و و جنګ ته نه و ز ی عو ر تی
د «حنان» عشق عارضی نه دی چه لاړ شی
ستا په در کښې می د مینې مو ز ی نختی

* * *

په ښکاره پر سر پیکړی د ملا ئی کړ ې
پټ په زړه کښې ولی زهد ر یا ئی کړ ې
دموسی په دود ظاهر لحی کو ه طور ته
په باطن لکه فر عو ن خد ا ئی کړ ې

ددې خپلی بې عقلۍ دوا کړای نه شې
افلاطون وځان ته وائې دانائی کړې
همېشه حلال حرام در باندی یو دی
غولېده تل په خرقه دګدائی کړې
په باطن دې د شیطان جلب نیولی
په ظاهره تسبیح واخلی پارسائی کړې
له عالمه له فقیره څخه تښتې
له فاسقه له فاجره اشنائی کړې
دافعلونه کل په تا کښی دی «حنانه»
بیاو نور ووته څه شکرخائی کړې

* * *

ماوی بیادې پرمخ زلفې راخورې کړې
ویل ستا په خوله می بیا خاورې ایرې کړی
ماوې وایه څه ارمان لری په زړه کښی
وی منګولې که می ستا په وینو سری کړې
ماوی کله به می وژنې چه خبر شم
وې چړی می د هجران در ته تیری کړی
ماوی کله به دا ستا دغمه خلاص شم
وې کباب چه می دا ستا دزړه قطری کړې
ماوې کله به په مهر را ته ګوری
وی ئی سترګی چه دوینو فواری کړی

ماوی سترگی می‌له غـمه فوازی دی
وی له‌غمه چه سینه یاری یاری کړی
ماوی کله ما «حنان» په‌وصل ښاد کړه
وی هاله چه اندیښنی له‌غیرو پری کړی

* * *

چه خوبان جلوه په قدو په قامت کړی
پر عاشق باندی په‌خوا ترمرگ قیامت کړی
په محراب کښی ستا دورځو بی له خاله
چا لید لی نه دی مست چه امامت کړی
چه‌ستا خیال می له‌خاطر څخه درومی
روح له تن څخه‌ترک دا قامت کړی
خوبان څه‌غرور دمخ په صفائي که
داد خط سیاهی بې‌ژر په‌ندامت کړی
که ظاهروسله د جنگ نه لری څه‌شو
عاشقان جنگ په‌شمشیرد کرامت کړی
وهروی چه‌می مدام د عشق له اوره
دازاهددې اول خپل ځان سلامت کړی
که خبر شی څوك د استاد د لبر به
نه‌ښائیږی چه «حنان» دې ملامت کړی

لاتر څو بېغمه خواب پر پالنګ پاس کړ
او به خور لکه اورنګ په زری طاس کړي
شا هسواران دزمانې شو تر پښو لاندی
ته لا څو هوا هوس د زین و آس کړی
بیا ها له که ارمان کړی فایده به نه وی
چه د عمر غنم لود مرګ په داس کړي
مرګ جارو کړه ډېر کورونه دخانانو
ته لا فکر دا سباب و د اساس کړي
د دنیا که چېر ته وران در څخه کذر شی
هغه دم دخدا خفه شي کوزو پاس کړي
میخانی له هسې زغلی لکه کور ته
او مسجد چه دخدای کوردی تر هراس کړي
باطن خوري د سړو غوښې ویره نه کړي
و «حنان» وته ځان خضر مهتر الیاس کړي

***

که یو ځل و خپلو زلفو ته نظر کړي
نور به زما له پریشانۍ ځان خبر کړي
خوش قلمه صحیفه ژر ژر تور ېږی
ښه خط ستاد مخ خطر دی که باور کړي
میخانې دوي-دوه محرابه پر یوه ځای
ستا بې ورو ځوستر ګونه شته که باوې ر کړ

پیرو ژ • به دې شی تن له ثقا لته
که یو ځل د ګل دبوی قبا په بر کړې
د عا ګوی چه دچامری پـه خفه کیږی
ته په څه زما په مرګ سره اختر کړې
توری زلفې توري ورو ځې توری ستر ګې
شوې سیاه پوښه چه دچاخاوری په سر کړې
چه و تنګه خو له تې لارد چا و نه شوه
ښا ئې د ا غزل «حنانه» مختصر کړې

* * *

بیادې دواړې ستر ګی توري په جادو کړې
سخر ې ځکه په ستر ګو د آ هو کړې
سیاه بختی چه راولې زما و ز ړه ته
دا په داچه شا نه ګډه به ګیسو کړی
د جفا په تیغ د ې قتل عا شقا ن کړه
چه له قصده د رقیب ځا ی بر پهلو کړې
عا لم ولې ستا له ز لفو ګیله کا ندی
قتلو ل د عا شقا نو په ا بـر و کـړې
د هجران تیغ می سینه پاره پاره کړه
که په و صل می ز خمو نه را رفو کړی
چه تر ستر ګوئې رودونه ځی پوهیږم
چه «حنان» به پدی او ښو کښی لاهو کړی

شکر و کاږه ترڅوئی په وسواس کښی
دنعمت زیاتیده کیږی په سپاس کښی
یا کن خلاص دی د عالم دشرو شوره
مرغاری نه خر څیږی په نخاس کښی
سرکښ نفس دریاضت په دام بندی که
څو به ئی لدی دښمنه په هراس کښی
د دښمن په تواضع مه غلطیږه
ونښان ته لینده خمه شی په لاس کښی
چه نری شی میاشت آخره شپه راخیژی
پټه وه ځان له عالمه په افلاس کښی
ښی و ر یښمنی جام باب دار تینودی
دمیړه مړانه نه ځی په کرباس کښی
له یارانو اخلاص تللی دی «حنانه»
گذران د زمانی شو په لباس کښی

***

تماشه ئی دخط و کړه په رخسار کښی
د گلانو پر یوانی وی په بهار کښی
چه می وسوه گل هډو نه سنبل بو یه
دسره اور ښه تماشه ده په نیزار کښی
زلفی ور و شانه کوی چه آزار نشی
ولی سل زړونه ئی اړدی په هرتار کښی

خط و خال ز لفو ستر گو ریز مریز کړم
شفقت نه شته دښهر په هند با ر کښې
په خپل خط پسې ئې خپلې ستر گې گور ی
که آهو دی آرام که په سنبل زار کښې
دا شبنم د گل پر پا نې با ندې پروت دی
که عرق د گل ر خسار دی په عذار کښې
د «حنان» قراره څه غوا ړی دلبره
چه رسوا کړ داستا عشق په قندهار کښې

* * *

څه بلا وه د ابر و په دنیا له کښې
چه ئې کښې بستم په آهو په نا له کښې
څه دعوی کړی آهو د استا له ستر گو
معجز ه نه وی په هره گوسا له کښې
چه دی زړو نه را نیو لـی وو په حسن
ور معلوم شو اوس دخط په قبا له کښې
ما وی نوش به کړ م شکر ی ستا دلبو
زهر را ستا د عشق به نه وا له کښې
د آ سمان ښېښه خا لی پاته شوه ولی
دعشق می نه ځائیده په دا پیا له کښې
غرو و زیات وی دنوخطو پر ساده لو حو
دچین مشك نه وی په هره غزا له کښې

یار بی مهره زه بی بخته عشق سور اورشو
«حنان» رنگه مه شه خوك په کشاله کښې

* * *

که د حسن صفائی نه وای په گل کښې
د عشق سوز به هر گز نه ؤ په بلبل کښې
که مجاز د حقیقت قنطره بولی
پر تیر پیزه اطاق مه نیسه په پل کښې
له آسمانه شکوه کفر دی خبر شه
مراد نه نه پریږدی هیڅوك په جز گل کښې
له نظره می فانی شو ساتی وانه
نه پوهیږم څه مستی وه ستا په مل کښې
په لیده ئی پیچو تاب شم نه پوهیږم
څه بلاده د شوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ دی معلومیږی
که گلاب زاته ښکاره شو په سنبل کښې
دائی لاس په حنا سره نه دی «حنانه»
مضمحل ئی کړه تول زړونه په منگول کښې

* * *

که وگر خمه پورته کښته په جهان کښې
ستا د حسن ثانی نه شته په انسان کښې
ستا د حسن در ویزه نه که نور څه که
چه غنچی خپل جیب لمن کړه په بوستان کښې

هر ویښته می د پاختی په درد کوکو که
چه را یادشی ستا قامت په گلستان کښی
په ژړا کښی می خیال ستا د لبو بیا موند
د بریښنارنها همیش وی په باران کښی
گریوان وتړه مهرو یه زه بیر یږم
نمر به واچوی خپل گل ستا په گریوان کښی
دغه ستا د ستر گو خیال که آهو ځکه
لوړ غاړه دی نیولی په دامان کښی
په هیڅ وخت ئی له هجرانه نه خلاصیږی
«حنان» قبر لره ولاړ په ډیر ارمان کښی

* * *

چا دی پورته کړه لبان په مسخرو کښی
بیا دی کړ کړم لکه خس په سرو لنبو کښی
هی توبه د آهو چشمو له عناده
له شیرانو زړه را نیسی په پنجو کښی
پرورده شوه په ژړا کښی زما کسی
لکه تخم د ریحان وی په اوبو کښی
په یوه کاته می زړه را څخه یو سی
کې هر څه ساتم د صبر په بوخچو کښی
تبسم ئی زما پر صورت هسی اثر که
چه هر هډ غاښونه سپین کړه په زخمو کښی

چه له مینی توبه کارشم ژر پیښیمان شم
هی توبه کار می بترشو په تو بو کښی
پارسی بان به د حیرت ګوتی په غاښ که
چه «حنان» داستا صفت که په پښتو کښی

***

وساته ګوهر په لعلو د یمن کښې
چه پیدا دی زمرد شو په ګلشن کښې
د مرجان ښاخ دیاقوتو د بام ستن که
وساته سور ارغوان په یاسمن کښې
پر لند و لاله د مشکو باران و کړه
د نرګسو جام ساته په نسترن کښې
له شفق سپوږمۍ پوره کړه د لبره
کښې ئې ږده دنوی میاشتی په خرمن کښې
له ګلابه دې لاله داغ پر زړه یو وړ
ستا نرګس د باغ نرګس کړه په کفن کښی
د مسیح په شان د وارا کړه مرده یم
د حیات او به دی نیسی په ذقن کښی
له حسرته ستا دغاښوما «حنان» نن
مرغلرې کړی راتوی په دامن کښی

* * *

بې ژړلو چاره نشته په هجران کښی
آب بازی نه شی هېڅکله په طوفان کښې

چه مات نه شی زړه غم ځای نه پکښی نیسی
چه قلم چاك شی سیاهی واخلی په میان کښی

وصل و هجر پر هیر انو ستر گو یو دی
تفاوت زر و سنگ نکه په میزان کښی

نه رامېږی وصاف دلو ته سیاه چشم
له سپین والی آهو رم که په بیابان کښی

نمك و سو ځی پر هار دا دم شی ولی
آزاد کړونی آزار مومی په خپل ځان کښی

لکه سیل چه په تندی له غره را لو ېږی
د سنگند او دولت هسی دی په زیان کښی

لاس پر ملا د نامېدی کښېږده «حنانه»
طمع مه کړه د فلك په دستر خوان کښی

* * *

له از له د استا خیال زما په سر کښی
نه چه نن را نه پېښ شوی په نظر کښی

آئینه دې د دیدن طاقت راوړای شی
جوهر دار ه تو ره تل لری په بر کښی

دیده بخت کله وېښېږی زما په غیږ کښی
سبزه کله زر غو نېږی په محشر کښی

په معنی زړه خوشالېږی په حرف نه شی
وی په میو کښی نشه نه په ساغر کښی

دبوسې خواست تل کوه د ساده لوحو

د دعا قبلېده کېږی په سهر کښی

چه وفاله تر کوغو اړی په مجاز کښی

څه هواده لا «حنانه» ستا په سر کښی

* * *

حال ویلای نه شم یار ته په تقریر کښی

نه قوت لرم د ګر تو په تحریر کښی

په مژګانو ئی له واره ادانه کړم

قوت نه و ودېږی لندی په تیر کښی

مار دزلفو یم خوړلی زړه می سوری دی

شفقت نه شته د عصر په دمګیر کښی

رقیب ستاله لوری ولاړ بیا به رانه شی

ګرزېده د مغزی نه شته په خنزیر کښی

نصیحت لګه او به عاشق غوړ لوښی

او به کله تاثیر کاندی په تصویر کښی

کوم صیاد وښکار ته ځی په خبر نه یم

چه له وهم ارام نه شته په نخجیر کښی

چه د یار پر تور وزلفو لېونی شوې

اوس خوشاله شه «حنانه» په ځنځیر کښی

سړی پورته شی له فخر تر آسمان په زمانه کښی
هر سړی چه ځان که خاورې ستا د در په آستانه کښی
چه شانه می تور کا کل کړ د بخت ورځ می توره شپه شوه
د غه توره شپه په خواوه مالیدلې په شانه کښی
خال دې هسی رنګ بندی کړم چه له چا نه خبر نه یم
حیر انېږم څه جادو دو په یوه تور دا نه کښی
لب دې لعل عقیق مرجان دی غاښ دی در خط فیروزه ده
څه دولت دی باری ایښی ستا دمخ په خزانه کښی
دمخ خیال بې مادی راشی زما د زړه و کاشیانه ته
ولی نه لو ېږی له سره دغه په دا خانه کښی
دا می ستر ګې دی له ذوقه زما زړه په وینو نښتی
که آهو ګل دلاله خوری په دا هسی دامانه کښی
که جلوه دی دیار سو ځی خاموشی خوی کړه «حنان»
دا په دا چه هېڅ زغ نه شته دڅراغ په پروانه کښی

* * *

یو کامل ووې کامل ته دا په حال کښی
اچو لی یم زه عقل په جنجال کښی
دا زما مشکل راحل کړه در مانده یم
مدام ډوب یم په دا فکر په دا خیال کی
چه دڅه دپاره خدای جنت پیدا کړه
چه شپه نکېږی هر ګز زمو نږ په افعال کی

هغه بل کامل جواب هسی شان ور کړ
چه ښه فهم دلیل و که زما په قال کښی
چه رحمان رحیم قدرت لری پر هر څه
دنیا ځای که دیوه ما شی په بال کښی
مهربانې عام عامه پر هر چا ده
نورې څه کاوه دوزخ په دا احوال کښی
الهی «حنان» له دغه اوره خلاص که
چه دې لطف کمی نه که په هر حال کښی

* * *

دهیڅ ښکلی پر ما نه شی مهربانی
دا په دامی پر طالع شی حیرانی
عشق ئې تندره اسمانی نه ده نو څه ده
ریز مریز ئې کړه د صبر ویرانی
که د حسن له مستۍ په لېونی دی
ما سرول ځنې زما شه سپلنی
له نظره ئې وتلی نه یم څه یم
چه دا هسی د عالم شوم خندانی
همېشه ئې په پرده کښی دی دوې سترګی
نپو هېږم چا په زده کړه رهزنی
درنجو په باټ ئې تېغ د سترګو تېز کړ
د زړه سپرور لره بو په آهنی

یاریاله «حنانه» اوس چه خطئي راغی
په کفار و کښې زیب که مسلمانی

* * *

د گل رخود چا مه شه د ښمنی
کې له غمه څخه مړ شی ئې منی
هیڅ بر حال پوښتنه نه کړی د مهجورو
خدای دې نګوری د دوی کبر منی
دعاشق زړه له بد نه څخه کاږی
چه جا مه د ناز په بر که سیمنی
وکشتن نه د عاشق هسی راز غلی
لکه کور لره چه زغلې وطنی
سپین دندان ئې بر ګرهروباندی ناز که
سره لبان ئې دی عقیق یمنی
قتل کړی یم هغه ګل رنګ بې تېغه
چه اغوستې بی قبا د چمنی
چه اغوستی ئې دخط توره جامه ده
د «حنان» رنګ شو په داکر کمنی

* * *

له عصیانه څخه نه کوې رم ولی
تل کوې پر زړه د ستا نو ستم ولی

په دنیا پسی او وه اقلیمه غواړي
اودحق پر لوری نه ږدي قدم ولی
ددنیا وکاږ ته سم ځي لکه غشی
خدای ته نه شوي په طاعت سره خم ولی
ددنیا په تله له خدا په مرورشي
دا چه اړوي وهلی قلم ولی
تو به وي مدامن اوښی د مظلومو
نړوي د تن دېوال په دانم ولی
دزمری په شان ورزغلي پر کمزوری
زورورو ته نه وهي دم ولی
خرڅوي دین په دنیا میرزا «حنانه»
دا نعمت زائله وي په داغم ولی

* * *

یار که ولاړ له ما نظرئي زما پر لوری
له لندۍ که غشی ولاړ لندۍ ته گوری
چه کاغذ قلم دوات کړی نرگس جمع
تعریف ستا دستر گو کاږی په له پوری
د حلیم له خشم قهره ایمن مه شه
ودانی کړی رېز مرېز چه زمکه سوری
بېنوا لکه مېوه له تماشو یم
چه زه ورشم بهار مخ که په بل لوری

مستفیض ئې یم له خطه څخه ځکه
پرخاطر ئې تل دمشکو باران اوری
په یوه نگاه ئې گونگ کړم نه پوهېږم
چه ئې سترگی کړې دنازپه رنجونوری
په فریاد دې غافل زړه ویښ کړه «حنانه»
دغه کوڼ په غوږونه اوری تش گوری

* * *

ووحدت ته نژدې زړه له ځانه دور دی
ددې باغ دگل غنچه سر د منصور دی
دیار خیال ته می خالی کړد زړه غولی
مېلمانه لره تپارشی سرای دستور دی
وچېده نه که یودم د زړه له نمه
په لېمو کښی می طوفان دی که ناسور دی
څه ښه رسم دی دعشق په شریعت کښی
وینی وچښی دمزدن کله دستور دی
هېڅ پروانه که زماله ساړه آه
دښابست په میو مست هسی مغرور دی
ستارقیب په بدو ښوخبر دار نه یم
دیار خیال په هر ساعت راته حضور دی
په خوبانو کښی مدام که په دا فخر
چه «حنان» رنگه عاشق راباندې چوردی

یه دنیا کښی به تر هغه څوك خرم وی
چه ملګری ئې مدام د اشنای غم وی
دهغوله مکرة څوك کله خلا صېږی
چه ئې ښکار مدام هوسۍ د حرم وی
بوالهوس که لاف د عشق که په داڅه
د دنیا خیال ومفلس ته د زړه دم وی
مونږ د عشق و غره ته شاده لګولې
له قاضی وهم که هغه چه کاڼی کم وی
پرسپین مخ باندی تورخط دیار خطر دی
خرابیږی ژر کتاب چه خوش قلم وی
له دولت دعشق کله بخره وړای شی
چه په فکر د دنیا ود درم وی
د «حنان» شکستګی ښکاره هغو ته
چه په خیال دیار دورځو مدام خم وی

کابل (۰۵۸)

***

د خپل یار جفا می ډیر ډیر ژړ وی
بل مې تن پراور د هجر کړ وی
د زاری وا ښه په خوله تر ګو ته نیسی
که په عقل غر له بېخه لوړه وی
که په هجر کښی څوك مرګ غواړی ښائیږی
تر یخ ژوندون سړی له عمره مړ وی

ښادی نه شته په خندا کښې د گل رخو
پر پر هار دپاسه ما لگی دوړ دی
د ناصح نصیحت هسې دی په عشق کښې
لکه اور چه په پوکلو سړوی
د یار هجر یم وژلی نه ر غیږم
بیهوده زاهد نمك پدوړوی
له آسمانه پر یواته دی بل څه نه دی
چه «حنان» څوك له اشنا په اړوی

***

وائی لاس د کوم مظلوم په وینو سره دی
چه له گو توئی دوینو توئیده دی
مشق دچا دخو نریزی کړی نه پوهیږم
چه له ستر گوئی له وینو څڅیده دی
زلفی وروځی ستر گی خط وخال رخسارهم
دغه شپږ زما په قتل سره مله دی
دنو خطو خو است دزنې د سیب بویه
دپخی میوی له ښاخه پری کیده دی
ښادی څه غواړی په عشق کښې د گل رخو
تمامی عمر د زړو نو سولیده دی
که په زور رستم، په عقل افلاطون وی
د زار اښه وتر کوته په خوله دی

وحمید نه هیڅ دی ستاشعر «حنانه»
د کبلی دمست شیرسره څه دی

***

ستا یه غم کښی به تر کومه یم بندی
مگر نه لری بندی ستا خور سندی
عاشق کله د رقیب خبره ورای شی
له حریفه سره تل بویه گوندی
دا د غم شپی به تر کومه تیروم زه
چه همیش زما زاری وستا نندی
په خبروئی باور مه کړه دلبره
چه رقیب می هر ساعت در ته غندی
واړه ستا دبی نیازی نه دی نوڅه دی
چه دی زه ددرست عالم کړم ریش خندی
پریوه قرار ثبات د جهان نه وی
پیدا شو بده پستی و بلندی
وعده وکړی په دروغو داڅه کار دی
له «حنانه» سره مه کوه رندی

***

هرچه بد وی هغه بد په عقبی پاڅی
روند محال دی چه له خوبه بینا پاڅی

وقبلې نه دعشق مخ د کل عالم دی
و دریاب نه ځی که سیل له هرجا پاڅی

مشغول مه اوسه په غم د سیم و زرو
د دنیا له ډیره فکره سودا پاڅی

د لږ عمر خوشحالی له گله زده کړه
چه وخار ته هر سهار په خندا پاڅی

دا زما په ژړا خط دیار زرغون شی
چه باران په پسرلی اوری گیا پاڅی

بیله خدا چا ته امید مه کړه «حنانه»
د سائل په ډیره طمع حیا پاڅی

* * *

بیهوده کړی وخوبانو ته زاری
نه منی له ډیره کبره ستا خواری

په څه طمع له گل رخو د دوام کړی
چا لیدلی ده د گل وفا داری

دتور خط پروخت له زلفو غافل مه شه
حذر بویه له مارانو بهاری

پر محک داهل دلو نه صافیږی
چه گدا رنگه دعشق کړی ناری

نه خپلیږی په احسان رقیب بی مخه
څه پوهیږی باغی خر په آبداری

ته استولی وم چه دخپلو تاوانونو تلافی وکړم ، اوس به زه په هېڅډول دا کار ونکړم چه خپل مال په بیت المال کښې تحویل کړم.

حضرت عمر (رض) چه دا خبره واورېده چپ شو. څه موده وروسته معاذ (رض) د حضرت عمر (رض) سره مخامخ شو ورته وئې ویل چه:

وروره ! زه ستاد لارښونی تعمیل کوم، ما په خوب کښې ولیدل چه ازه د او بو په گرداؤ کښې د رگرده غوټی خورم، نژدې بم چه ډوب شم او تا ماته نجات را کړی دی به دې ډول ماجراء ئې حضرت صدیق اکبر ته هم عرض کړه او څه ئې چه درلودل ټول ئې راوړی ؤ او سوگند ئې وکړ چه هېڅ مې ترینه نه دی چپ کړی ټول مې راوړی دی، حضرت صدیق اکبر قسم وکړ چه هېڅ به ترینه وانخلم زه ئې له خپلی خواتاته هبه کوم

حضرت عمر (رض) ناست ؤ ، وئې ویل چه اوس نو تاته ددې مال په ساتلو کښې هېڅ بدی نه شته .

داوو د اسلام سپڅلی لارښوونکی چه له کوم ډول اخلاقی جرأت نه کار احلی او د اسلام دپرمخ تگ دپاره په خپلو خواهشاتو پښې زدی دوخت خلیفه ته هغه ډول نظر به عرض کوی چه د نړی تر پایه د اسلام پر صداقت او سپېڅلتوب دلالت کوی، له بلې خوا د خلیفه د عدالت او انصاف درجه څوموه لوړه ده، او په څه ډول رو به اختیار وی ددې برخای چه پر معاذ (رض) داموالو د تحویلولو امر وکړی، چه هغه ئې په خپله ورکوی هم ئې دی دهمې په توگه بېرته ورښې، چه په دې اساس د ټولو د زړونو اطمینان حاصلېږی ، او د زړو پر دې ئې چه داشتباها توسیلیو رپولې په څه رنگ ارام مومی او حضرت عمر (رض) حضرت معاذ (رض) ته وای چه اوس که دا مال ساتی نو څه بدې به کښې نه شته ای د اسلام مدعیانو او گوری ء او خپله دعوه په هغو دلایلو اثبات ته ورسوی ء لکه څرنگه چه دعو مدعیانو د خپلې دعوې تثبیت کړی دی.

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لور خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کل یاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه د محمددین ژواك تدوین یوجلد په (۱۲) افغانی

۷ : پریشانه افکار : د ښاغلی بینوا اثر یو جلد په (۱۰) افغانی

۸ : نړۍ په دوه زرم کال کښې د ښاغلی واسعی ترجمه

۹ : افغان قاموس دوهم توك ....

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواږه ادب ادبی تنده ماتوی .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ پوازینې وسیله ده.

دا مجله د نیرو او او سنیو پښتنو پرژوند شه رنا اچوی.

تاسی کولای شئ چه د اتنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د ننه هیواد کښې

په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدارې په نورو دباندنیو هیوادونو کښې

په (۳) دالره ماته کړئ

د ښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په

ولایاتو کښې د همدی مؤسسې د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه